کابل

د ۱۳۳۶ ش کال د میزان (۱۵) ۱۳۷۷ ق کال د جمادی الاول (۱۴) د ۱۹۵۷ ع کال د اکتوبر ۸

2 - JAN 17 1958
Copy ____

Oct. 8, 1957

په دې ګڼه کښې:

سوال ګرونجلۍ * من * د عقل بز خه ....

خو ندوره فلسفه * تاریخ * جرم او سزا

د فلسفې په شا وخوا کښې * خو ښتنه

پښتانه د نورو په نظر کښې * کتاب:

د جبران خلیل اثر. و لو لیء

د «تاگور» له آثارو څخه

دښاغلی «رشاد» ترجمه

سوالگره نجلۍ

د(سرسوتی) په ښار کښی کاختی شوله، دبېوزلو علیلو آسمانونه ولرزول (مهاتمابده) خپل مریدان راوبلل یو، یوئې وپوښتېد:

څوك به وی چه دوږو، دمړولو ذمه واخلی؟

دښارماړه سرداگر مریدئې ورته وویل:

«سترستانه! ښار له ښاره سره له لوږی مری، زه دومره وس نه لرم چه ټول وږی دې ماړه کړای شم»

د کلی ملك وویل:

«منلې! دوینوو روستی څاڅکی می لاتر تاجار!

زړه می دغریبانو په بخولو (مصایبو) ټوکر ټوکر دی. خوڅه وکړم پخپل کور کښی شومه نه لرم؟»

دقام خان واوسېلل اووې ویل:

«داسی ښکاری چه زما پر کښتو دبلاساه ختلی ده، دومره به ځینی رانه شی چه دپاچادمالیې عاړه دی په ووزی څه نه لرم څه وکړم؟»

ټولو زغړده نټه وکړه، دښار خلکو یودبل خولی ته سره کتل، د(مهاتمابده) نامېنده کتلو، د کاختی وهلو ښار لورته هسی کتل لکه دشپی پای ته چه ستوری رپی.

په دی ترڅ کښی یوې سوالگری پیغلې پوړنی پر ځان سره راونغښت او دخلکوله منځه راپاڅېدله د(مهاتمابده) بښې یی ونیولې، په خوراپسته اوخوږه ژبه یی ورته وویل:

«باداره! زه چه یوه سوالگره نجلۍ یم

دا کار پرخپله غاړه اخلم ددې ښار خلك چه له لوږی په کوکارودی گرده زمارامن دی اوزه به ددوی مړولو لره دښار په گوټ گوټ کښی پلو گرزوم»

د ښار خلك هېښ پېښ پاته شول چه یوه سوالگره نجلۍ چه پخپله د یوه سوالگر لور او یوې وچی گولی ته اړه ده څنگه کولای شی

پاته په دریمه پشتۍ کښی

(۲۷ کال)

(۱۲) گڼه

کابل

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

د امتیاز خاوند: پښتو ټولنه

د پښتو ټولنې مشر: گل پاچا ، الفت ،

مسئول مدیر م، د، « ژواك »

پته: کابل نادر پښتون واټ د پل خشتی دیله مقابل د تیلفون لمبر (...)

من

وائي چه د کابل پخوانی من ډېر دروند واو څوسېره ئې او سنی یوه منه ته رسیدل هغه من زمانی دچال اوچلند څخه واچاوه اوسیرته ئې دچل چانس ورکړ.

داچه زمانه درانده هم کله کله دسپکوپه مقابل کښی مغلوبه وی دلته هم د فکر خاوندان ځان ځېر اودقت ته مجبور ګڼی زمانه داوښتلو اورا او ښتلو په زور دا هم کولای شی اوهغه هم. دادی دزمانې هغه پټ راز چه له نظره ئی د پټو لو کوښښ کړی او کوی ئې.

ګوری ء! کله بیاددې قانون بل مخ هم لیدلای ءشی. یعنی هغه دځېر خاوندان چه دهمدې لوی منه سره ئې د سوچه اوناسو چه د معلولو دپاره «نخود» په کار اچولای شوای هغه هم هېروی داهېره هم دیاد وړده دلږ التفات په کولو هغه څوک چه دزمانې ودی. ډول سپک او درانده ته کتل ضروری نه بولی یاداډول دقت د قدر وړ نه ګڼی چه هغه سو چه اودغه ناسو چه سره بېلولای شی څه شانی حیرانی ده. زه خودې ډول بی پروا ئی ته په بی پروا نظر نشم کتلای. ځکه همدغه دنیا ګوتې دتش سپک نظری او بې قدری ځای بلل راته یوډول بې عدالتی ښکاری.

زه په همدې جهان کښې هغه نظر دقدر وړ ګڼم چه سپک ته ئې سپک اودرانده نه ئې دروند ویلې دی سره له دی چه زمانی درانده ته سپک او سپک ته دروند ځای ورکړی وی په همدې شان هغه ماغزه دخوښولو وړ ګڼم چه د جهان د هرډول لوی منه سره د سو چه اوناسو چه دپاره په همدی شان نخود هم پکار اچولای شی.

دادی زما فکر اوزما دفکر میزان دجهان دتاوده اوساړه بازار دتول اووزن د پاره. له هغه چا سره چه داړول نظر نه وی که څه هم دخپلو ستر ګو دپاره دښېښې دعینکو پر ځای تېلسکو بی هنداري ولری بیا هم هغه ستر ګی دبصیرت په دکان کښی ماته دایښودلو وړ نه دی اوس نوستا سی خوښه چه ما ګرموی او که مې دمعافی وړ بولی!

ژواک

دعقل برخه په ژوندانه کښې

دخدای کار او دخلقو کار یوشان نه دی هغه چه خدای پیدا کړیدی او هغه چه مونږ پیدا کوو زښت ډېر فرق لري .

خاوره خدای پیدا کړه او له خاورو نه کندولی مونږ پیدا کړه د کندول عمر ډېر لنډ دی مګر دزمکې عمر په حساب او تخمین کښې نه راځي ، مونږ چه یوشی جوړ کړو له هغه نه بل هغسی شی نه پیدا کیږی مګر له غنمو نه غنم له انسان څخه انسان تر قیامته پیدا کیږی او په زرګونو کلونو پایښت لري .

دزمانې طوفانونه او د جهان مرضونه که هر څومره مخلوق تباه کړی دخدای مخلوق نشی محوه کولی .

که هر کال چرګانو نه توغکی راشی او غوایانو نه تاکو بیاهم چرګان او غوایان نه ور کیږی او قصابان ، لیوان . ګیدړان دغه تخم نشی ور کولی په مونږ باندې ډېرې وبا ګانې راغلی ، زلزلو او سیلابونو ډېر کښې او ښارونه وران کړه . په جنګونو او جګړو کښې قتل عامونه جوړ شوه چنګیز او هلاکو دانسانانو سته وایستله مګر انسان ورک نشو او میږیانو غوندې ضعیفه مخلوق هم په قرنو قرنو خپل نسل وساته .

پاک خدای دهوا په مرغانو او دزمکې په ځناورو کښې داخوی اینبی دی چه زیږولو او نسل ساتلو په کار کښې به هیڅ غفلت نه کوی .

هر کال دهوا مرغان نوی کورونه جوړوی او نوی هګۍ پکښې زدی کله چه هګیونه بچی راوباسی دانه ورته په خوله کښې راوړي او په ډېر احتیاط ئې له خپلو وزرو لاندې لویوی .

یوه چرګه دخپلو بچیو په راایستلو او ساتلو کښې څومره دقت لری او د مورولۍ وظیفه څنګه ښه اجراء کوي ، غوا ګانې پخپلو بچیو باندې څومره مهربانې لری دغرو ځناور هم له خپلو اولادونو سره بې مینې نه دی .

دا کار تعلیمی کار نه دې او عقل ته ضرورت نه لری بلکه دغریزې او فطرت په خوښه اجراء کیږی .

یو ماشوم چه په لومړی ورځ دمور په تی باندې خوله زدی او روې ئې بې له غریزی نه بل لار ښوونکی نلری .

دغه شهوانی قوه چه نر او ښځه ئې یو دبل په نسبت لري یوغریزی خواهش دی چه د ژوند ساتلو او د نسل دبقاء د پاره په انسان او حیوان کښې موجود دی یعنی دژوندانه ساتنه او دنوع پایښت د غریزی

کار دی او په همدغه تینګ اساس دغه مانۍ ولاړه ده .

دلته باید داوویل شی چه دژوندانه بنیاد په عقل نه دی ایښودل شوی او عقل د انسان په ژوندانه کښې هم دغریزې په اندازه برخه نلری لکه چه په عقل کښې هغه توان او قدرت نشته چه په غریزه کښې موجود دی .

عقل د غریزې په مقابل کښې دیو مزدور حیثیت لری بلکه یوه آله ده چه غریزه ئې استعمالوی .

پوهان وائی چه اختراعات او کشافات هم غالباً په هغو چارو کښې دعقل په برخه کیږی چه غریزه ئې وغواړی او د زړه علاقه ورسره پیداشی ، که نفس یوه شی ته ډېر مایل نه وی دعقل ادراك په هغه خوا کښې ډېر ضعیف او کمزوری وی نو هر کله چه انسانی غرایز په عقل باندې پوره تسلط لری او عقل دیوی آلې په حیث استعمالوی نو دژوند اساس په غریزه بناشو او ددې لامله چه غرایز په انسان کښې له نورو حیواناتو نه ضعیف دی نو دعقل وسله هم ورکړه شوه چه د ژوند په چارو کښې له غرایزو سره مرسته وکړی او دغه نیمګړتیا پوره شی . نو عقل باید دژوندانه دوسایلو او اسبابو د برابرولو په کار کښې صرف شی او د ژوند ښه کولو کار ترینه واخیستل شی ، نه د اچه دحقیقت د کشف او دپټو اسرارو دخرګندولو هیله تری وکړو او په بله خوا کښې ئې په کار واچوو .

دعقل اصلی کار همدغه دې چه له مادیې سره تعلق پیدا کړی او په موادو کښې تصرف وکړی .

طبیعی او ریاضی فنون هم دا مدعا ډېره ښه ثابتوی چه دعقل کار له مادې او جسم سره دی چه باید ابعاد وپیژنی او کمیت ته متوجه شی .

د کیفیت پوره پیژندنه دعقل کار نه دی او عقل د دغه مطلب دپاره نه دی پیدا شوی د همدې لامله انسان باله کیفیت نه بیخی غافل دی یا کیفیت ته هم د کمیت په نظر ګورې .

زمانه په اصل کښې کیفیت دی مګر انسان د خپلې ساعت تیری دپاره چه د ژوندانه یکنواختی ور که کړی دغه کیفیت د کمیت له مقولې لاندې راووست او د زمکې حرکت دستورو حرکت او نور حرکتونه ئې زمانه وبلله .

هیئت ، نجوم ، او ریاضیات په همدغه مفیده اشتباه بناء شوه او ددغې لوئې غلطۍ په وسیله لوی لوی مقصدونه حاصل شوه .

که انسان ښه غور وکړی یو هیڅ چه عقل انسان ته ددې دپاره ورکړشوی دی چه د آلاتو او مصنوعاتو په جوړولو کښې ترینه کار واخستل شی او یوڅه جوړ کړی نه داچه په څه پوه شی او د کیفیت په ادراك موفق شی .

دمغرب پوهان پەدغه راز پو هیدلی دی
ځکه‌ئې دژوند ښه کولو په کار کښې له
عقل او پوهې نه کار اخستی او زمونږ پوهان
په نورو تصوراتو کښې غرق دي .

مونږ باید دجوړ ولو او پو هیدلو په فرق
قایل شو جوړول اسانه کار دی مگر پو هیدل
گران کار دی ، د شا تو مچۍ عسل
جوړوی مگر په حقیقت ئې نه پوهیږی ، مونږ
ژوند کوو او د ژوند وسایل برابرو و مگر
دژوند په حقیقت نه پوپوه شوی .

داکتران او طبیبان دژوند په خدمت تر
ډیره حده موفق شویدی او دزړه حال ، دسږو
حال ور نه معلومیږی مگر ژوند نه پیژنی
او له روح نه ناخبره دی ؛

دانسان ډیره مهمه او لویه وظیفه
دژوندانه سائل او ښه کول دی عقل او فکر
علم او فن هم د همدغه مقصد دپاره دی چه د
ژوندانه اسباب او وسایل برابر کړی او
په همدغه لاره کښې ترینه کار واخستل شی.

الفت

هغه څوك ډیر عاجز او بې وزلی دی چه په خپل ژوند کښې یار اشنا
نه شی پیدا کولی. او له ده نه زیات بې وزلي بیا هغه څوك دی چه خپل سکه
یار اشنا ترینه بیگانه اوبردی شی (حضرت علی «رض»

د ښاغلی واسعی تتبع او لیکنه :

خوندوره فلسفه

دیوه فکر او نظریې بطلان(پدې شرط چه دفرد یاجامعې دبقاء دعواملو څخه بو عامل پکښې موجود وی) دهغې دقبول مانع نه لویږی. زیاتره داسی پیښیږی چه یو درواغ او دځانه جوړه شوې قصه او افسانه ژوند داسی وړاندی بوزی، چه یو سپین رښتیا او سو چه حقیقت دهغسی وړاندی بیولو څخه عاجز وی، دمثال په توګه به یو عسکر را واخلو چه دوطنیت په احساس څنګه ترخپل سر تېرشی او ځان دمرګ په خوله کښې ورکړی او که دغه عسکر یوازی دعقل په خوله وکړی او صرف عقل پری حاکم وی هیڅکله به ترخپل سر تېر نشی او نه به مرګ قبول کړی. راشیء پلرونو او میندوته به وګورو چه د خپلو کوچنیو او اولادو په لویولو او روزنه کښې څه کوی او کومی تلغمې او تاړاکونه، ربړاوزحمتونه تش داحساساتو او عاطفی په حکم ګالی او څه خواری او تکالیف ئې په دې لار کښې برسراخیستی، ترخپل ژوند دخپلو وړو دپاره تېرېږی، تودې او سری زغمی دا ددی لپاره چه او لاد ئې مسعود او ډاډه وی مګر که دمنطق او عقل په حکم کار وکړی هیڅ کله به دې زغملو ته حاضر نشی بلکه دځانه سره به ووائی چه، «ځانه خپله ځانه ترهر چارا باندی ګرانه» لور او زوی به ترخپل ځان پوری هېر کړی بلکه هیڅ به ئی هم نه وبولی. خو، له ښه مرغه مونږ دانسان او بشر تکم (جنس) فطرتاً «خپل چارو کښی» یو په افکارو او نظریاتو کښی هغه تیپ نظریات او افکار منو او په کار ئی چوو چه دژوند دساتنی او دنوع بقاء مو پکښې موجوده وی، چه که دا فطرت نه وای موجود انسانیت به دپخوانی وحشت او لرغونی حیوانیت پرحال ځای پرځای ولاړ وای نه به ئی ترک وهلی او نه به ئی دارتقائی سیر او وړاندی تګ په لار کښې پل اخیستی وای، داحالت «خپلی ښې ته کتل او دځان داسری مراعات» یوازی په په عوامو کښې نه چه په خواصو او دعلم په څښتنانو کښې هم موجود دی، زیاتره علمی افراد په خپلو علمی څېړنو او تحقیقاتو کښې یوه لویه برخه داسی آراء او افکار قبول او ومنی چه که دوی دهغو په اساس خپلو څېړنو او تحقیقاتو ته دوام پسی ورکړی د دوی څېړنی به کامیابی شی مګر هغه آراء به دصحت دپاره کوم منطقی او عقلی دلیل نلری او نه به ئی دوی ورله موندلای شی. مثلا علم ته دانده معلومه او په دې نه دی خبر چه «(۱) اثیر» څه شی

(۱) اثیر دفلکیاتو په عرف کښی نهم آسمان او دطبیعیونو په اصطلاح هغه ماده ده چه په هوا (دمځکی او آسمان ترمیانځ) او دټولو اجسامو ترمیانځ ئی ځای نیولی ومتخلخله ده، ږغ او حرارت دهمدغی مادې په واسطه امتداد مومی او تروزن او تول نه لاندی کیږی.

دی «جاذبه» څه شی ده «ماده» څه شی ده، قوت، یا بریښنا څه شی ده؟ مگر سربېره پر هغه بیاهم داشیان هر یو ځکه فرضوی چه دده په مقصد او وظیفه کښی مرسته ور سره کوی، او همدغه شی دی؟ چه د «پراگماتېزم» مذهب زمونږ بلنه ورته کوی نو دا مذهب یا فلسفه مونږ ته وائی چه سړی باید هغه فکر او رایه ومنی او قبول ئی کاندی کوم چه دغو مره ئی صحت معلوم وی چه مونږ په ژوند کښې مخ پر یوه صحیحه خوار وانولای شی او خپل مقصد ته مور سولای شی نو مونږ ته دا فکر لږ یا ډېر هیڅ ندی لازم چه بریښنا ذاتاً څه شی ده ده تر هغو څو مونږ په بریښنا ځان ته ډېوه روښانه کوو یا فابریکې پری گرزوو، د بریښنا لو یه معنی او ماهیت مونږ ته دادی چه کار را ته کوی ماشینو نه کارخانې را چلوی شل خو اوی مونوری پری سمی دی. په همدغه ډول مونږ د یوه شمېر ډېرو فکری مسایلو څخه (هغه چه فلسفې بې ضرورته میدان ته را اچولی او خورا مشکلات هم لری) ځان ژغور لای شو

نو په همدغه اساس به مونږ د هر کوم بحث او څېړنی څخه چه د قوت یا مادی یا څښتن تعالی د ماهیت یا د نورو دغسی موضوعاتو په اطرافو او شاوخوا کښی وی ډډه کوو، او همدغه به کافی بولو چه د هغو نخښو او آثارو ته به (چه زمونږ په روځنی ژوند کښی ځنی څرگندیږی) په ځیر گورو او بحث

او څېړنه به پکښی کوو هغه شیان به بیمعنی او خالی الفاظ او محض ویناوی گڼو چه مونږ به خپلو تجربو او ازموینو کښی د هغو پر اثارو پېښ شو او کوم خارجی اثر پرې مرتب نشی د پراگماتېزم مذهب دادی چه هر فکر او رایه به یا د یوه تاکلی او معین عملی سلوک د پاره وسیله وی، یعنی فکر به د یوه کار او عمل له تصمیم او عزمه څخه عبارت وی چه انسان ئې کوی او یا خو به قطعاً له همدې قبیله ځخه نه وی، هغه فکر چه صرف د انسان په دماغ کښی وجود او نشئت ومومی او صرف د یوه ذهنیت حیثیت لری هغه ته پراگماتېزم نه ویل کیږی او نه داوړده چه دا نوم پر یا د شی په داسی تش ذهنیت کښې هیڅ خیر نه وی تر هغو څو د انسان د پاره دده په ژوند کښی رهنما نشی او دده د سلوک لارښوونی ونه گرزی او دده سره به هغه لار کښی مرسته ونه کوی که دا مرسته نه وکړی نو دې ته فقط یو بچگانه او بې معنی فکر وایو چه هیڅ په ښه چا نه نه ورځی او نه څه فائده پرې بنا ده په همدغه اساس زمونږ هر ذهنی فکر باید یوه عملی لارښوونه مونږ ته وکړای شی او په ژوند کښی مونږ ته زمونږ د سلوک او د تگ لیکه راولیکی او راته ووائی چه پر همدغه لیکه ځه او د ژوندانه لار دی همدغه ده، او د دغې لاری د پاره مونږ ته هغه قواعد او ضوابط وضع کړی چه زمونږ د روځنی او د هغه وقت او زمان تقاضا او ایجاب وی په بل عبارت هغه قواعد او ضوابط زمونږ د یوه تاکلی او معین عادت

دپاره اساس او بنسټ وی دمثال په توګه به جاذبه راواخلو: دجاذبې معنی او مفهوم په یوه شمېر معلوموا و معینو عاداتو کښې محصور دی چه دهغو څخه مونږ پخپل کړن او سلوك کښې مرسته اخلو، نو مونږ ته دا را معلوموی چه خپل تعلقات د ټولو شیانو سره په یوه مناسب او ملایم تنظیم سره پرځای کړو، نو به دا وبو لوښی داسی اخلو چه خوله ئې لوړی خوا ته وی او دجاذبې په ناموس توی او چپه نشی، پرلار به سم دم او کلك روان یو چه دجاذبې په حکم او فعل غو زار نشو، و دانی به سمه او نېغ جوړه و چه دیوالونه کاږه او ځړاند نه وی چه دجاذبې په فعل راچپه نشی دغسی هم نور شیان او که زمونږ پرژوند د دې فکر اغېزه نه وی شوی او څه اثر ئې نه وی پری لوېدلی او مونږ پخپلو تصادفاتو کښې کوم چه ور سره مخامخ کېږو او کومی تجربې چه لاس له راځی دهمدغه فکره څخه خالی ژوندو کړو نو به دا فکر څه اعتبار او اهمیت نه لری او صرف یو ګمان او وهم غوندی شی به وی قطع نظر لدی څخه چه په خارجی نړۍ کښې وجودولری او که ئې ونه لری نو په همدی اساس صحیحه رأیه او فکر هغه بولو چه مونږ ته دژوند لاره اسانه کړی او پر کامیابی ؤ بری مو پېښ کړی او باطله رأیه هغه ده چه همدغسی نه وی یا هغه چه پرژوند کولو ځنی نخښه او اغیزه نه ولری.

ژوند لکه ځنی فلاسفه چه وائی دادی چه دانسان داخلی حالات له خارجی ظرو فوسره تطبیق و مومی، نو نتیجه دا شوه چه دژوند دپاره وړ او صالح عقل هغه دی چه دخارجی ظروفو تغیر او اختلاف درك کړی او داد دی دپاره چه مونږ خپل کړن او لاره و سلوك دخارجی ظروفو سره برابرو ساتو او ملایمت او مناسبت ور کړو نو اوس مونږ ته زیاتی دا خبره په کار نه راځی چه هغه ذهنی شکل او صورت چه دیوه خارجی شی په باب کښې مونږ ته عقل مصور او رسم کړی دی له اصله سره مطابق دی که مخالف، بلکه حق او لوړ او هسك حقیقت په ژوند کښې هغه دی چه لمړی دبقأ ساتنه و کړی او بیا ژوند مخ د کمال پرخوا لوړ او هسك کړی کوم شی چه همدغه چاری پرځای او دا مهمی وظیفې سرته ورسوی هغه صریح او ښکاره حق او غیر قابل انکار حقیقت دی، په همدغه موضوع کښې «ډیوی» امریکائی عالم ویلی دی فکر دژوند دلوړولو آله ده او ذاتاً ددې دپاره ندی چه دشیانو معرفت او پیژندنه پرې وشی «شیلر» وانی حقیقت هغه شی دی چه صرف دانسان خدمت او چوپړوو هی او استخدام شی او دا دواړه ددې مذهب «پراګماتېزم» دلو یانو څخه دی.

په آخر کښې به د «پراګماتېزم» دری شرطونه دهر فکر د صدق او عدم صدق دپاره په لنډ صورت داسی واضح کړو:

(۱) هر فکر به هر و مرو فوری قیمت e Ca لری یعنی انسان به خپل دفکر صحت او

عدم صحت بخپله عملی تجربه کښې معلوموی که فکر او عملی تجربې توافق سره درلود فکر صحیح دی او که نه وی غلط دی

۲: فکر به د سړی دنورو افکارو سره ربط او انسجام لری فقط دانده کافی چه هر فکر به ځانته دخپل فوری قیمت په اساس صحیح وی بلکه داضرورده چه دسړی دنورو افکارو سره به تناقض نلری مثلاً زه په طبیعیاتو کښې یوه نوعه ذرات فرضوم، بیا راولاړ یږم په کیما کښې بله نوعه ذرات فرضوم، دادوی نوعی که څه هم پخپلو حدودو کښې هر یو جلاجلا او ځانته صحیحی هم وی مگرچه دیوه واحد شی په باب کښې مونږ ته دوی نظرئې پرتې وی او دخپل فوری قیمت او عملی تجربی له مخی دواړه صحیحی هم وی مونږ په دواړو کښې هغه اخلو چه آسانه او بسیطه وی ځکه دا بیا هم یو فارمول دی چه په دوو یو شانته فکرونو کښې چه هر یو اسانه او بسیط ؤ هغه صحیح دی مثلاً د «کوبهرنیك» نوی نظریه د «بطلیموس» دزړې نظریې سره چه دواړه رښتنی وی او دخلقو په عملی ژوند کښې د دواړو څخه یو شانته نتایج څرگندیدل مگر ځکه چه د «کوبرنیك» نظریه د تعقید او گرانتیا له مخی د «بطلیموس» تر نظریه سپکه وه نو حتماً غوره نظریه هغه ده.

۳: تردی دواړو وروسته به نظریه دډاډ او اطمینان وړوی او دانسان زړه به تسکین ورته کوی او تر هغو څو د عملی قیمت سره معارضه ونلری زړه به پری ډاډه وی او آرام به ورته مومی مثلاً دینی عقیده (سربیره پر دی چه زمونږ په عملی ژوند کښې فوری قیمت نلری او که ئې ولری هغه به لږ شانته وی) مگر بیا هم دینی عقیده درلودل یو حتمی او ضروری خبره ده ځکه چه زمونږ ژوند را نیکمرغه کوی او د تفاؤل او ښه چانس رنگ ور کوی. او په عین حال کښې زمونږ دنورو افکارو سره انسجام او توافق لری او معارضه نه ورسره کوی، ددې معنی داده چه هر وقت چه کوم دوه فکره او دوې نظریې سره مساوی وی او یوې په انسان کښې تفاؤل، ښه مرغی او بلی تشاوم او بدمرغی تولیدوله لمړی تر دوهمه صحیحه او په صدق کښې زیاته ده، نو دایمان درلودونکی او دهری ؤ ملحد عقیدې ددوی دژوند پرشئوناتو څه اثر نه اچوی مگر دومره قدر فرق خولری چه د عقیدی څښتن د آخرت په هیله او امید دی حتماً د تفاؤل

خوا غالبه ده او ملحد او دهری دهیڅ شی په امید نه دی هرو مرو د تشاؤم او بدمرغۍ په حال ژوند کوی. نو اوس دا معلومه شوه چه ایمان او عقیده تر الحاد او دهریت حق او ځکه رشتیا او صادقه ده چه انسان ته گټه او فایده رسوی.

د دې مذهب او فلسفی اصلی حقیقت هم دغه دی، مگر کله کله دا تنقید پری کیږی (او حقیقت هم لری) چه دا مذهب او فلسفه خو خلق سره بېلوی او د اجتماع او ټولنی انسجام او رابطه سره شلوی ځکه هر سړی به ځان ته هغه رأیه غوره کوی چه خاص خپله اسره پکښی ووینی او دبل په غم به نه وی ویشتلی، نو گواکی فلسفې دهرچا پر خپل مزاج او د هغه پر ایجاباتو او ظروفو اساس وموند.

خو دوی ژر راولاړیږی او په بیړه ؤ تلوار جواب ور کوی چه د پراگماتیزم مذهب دی نقیصی ته ملتفت شویدی او د مذهب د قواعدو او جامعې د خیر تر مانځ ئی موافقه شرط بللی ده نه د فرد، نو ئی ویلی دی چه صحیحه رأیه هغه ده چه په عملی فایده کښې ئی دومره ډېر شمیر انسانان شریک وی چه امکان ئی موجود وی بلکه سر تر پایه ټول بشریت او انسانیت به برخه پکښې لری. نو اوس باید مونږ تر هغو څو یوه اوږده اجتماعی تجربه مونه وی پرې کړی پریوه رأیه د صحت یا غلط حکم ونکړو او څو د اجتماعی نقطه نظره څخه ئی فایده نه وی را معلومه شوی حق یا باطل ئی ونه بولو.

تاریخ

تاریخ څه شی دی؟- تاریخ کله او څنګه منځ ته راغی ؟-تاریخ په څو ډوله دی؟-دتاریخ فلسفه- دتاریخ اصول- تاریخ علم دی او که ادب؟- دتاریخ دتحول سیر- تاریخ کله منځ ته راغلی او په څو دورو وبشل شوی دې دتاریخ رول دملتونو په روحیه کښې .

نتیجه او خاتمه :

دتاریخ په شاوخوا کښې ددغو پورته سوالونو او موضوعاتو حل او پوهېدنه دهرچا په تیره بیا دهغو چه دتاریخ له علم او تاریخی واقعاتو او حقایقو سره تماس او یا علاقه لری یوه ستره هیله ده .

څرنګه چه تر اوسه پورې په پښتو کښې په مستقل او مفصل ډول دغه پورته سوالونه او موضوعات دچا له خوا نه دی سپړل شوی او چا پرې څه نه دی لیکلی نو ما ته په ځای ښکار شوه چه پدعه متعلق وروسته له یو لړ څېړنو او پلټنو څه ولیکم او په ډېر احترام ئې د کابل مجلې په وسیله پښتنی دنیا ته تقدیم کړم .

پدغه لړ کښې چه کوم مطالب راغلی دی او دادی اوس ښاغلیو لوستونکو ته د مطالعی په منظور وړاندې کېږی ؛زیاتره زما د هغه وخت خصوصی یادداشتونه دی کوم چه زه دادبیاتو دپوهنځی دتاریخ او جغرافیې په څانګه کښې یو شاګرد وم سربېره پرهغو ددغو مطالبو د لیکلو په ترڅ کښې زما له خوا دځینی نورو کتابونو څخه چه وروسته به د مأخذو په لړ کښې وښودل شی ؛ځینی اخستنی هم شوی دې او داددی دپاره چه ګوندې ما پښتنی ښاغلې دنیا ته پدعه لړ کښې یو ثقه او مستند بحث وړاندې کړی وی. خو بیا هم دا احتمال شته چه زما یادداشتونه او اخیستنې به څه نیمګړتیا ولری؛ چه له هغو نه بخښنه غواړم .

څرنګه چه د تاریخ په شاوخوا کښې مطالب او خبرې ډېرې دی او زما دغه بحث او لیکنه هم اوږ دېږی نو لپاره ددې چه له یوی خوا مطالب یو په بل کښی ګډ نشی او له بلی خوا افاده ښکاره او روښانه او استفاده په آسانه لاس ته راشی نو ما لازمه وګڼله چه دتاریخ په شاوخوا کښې چه کوم سوالونه او موضوعات دی؛ لومړی هغه یو دبل نه سره بېل کړم او بیا په سوال او هره موضوع باندې په مسلسل او مرتب ډول څه ولیکم نو بنا پدې دادی لومړی

ب:-تعریف :

ځینې پوهان دموضوع په لحاظ علوم په دوه لویو برخو وېشي یو مادي علوم او بل معنوي علوم ، مادي علوم هغه دي چه دبحث موضوع ئې طبیعت او ماده ده. او معنوي علوم هغه دي چه دهغو دبحث موضوع او محور یوازې انسان او بشري موسسات دي.

او بیا معنوي علوم په درې لویو برخو وېشي لکه روحي علوم (پسیکولوژي) اجتماعي علوم (سوسیولوژي) او تاریخي علوم (۱) چه یدغو کښې بیا تاریخ په عمومي لحاظ هغه علم دي چه ټول هغه واقعات چه په تېره زمانه کښې پېښ شوي دي مطالعه او تدقیق کوي (۲) چه یدې حساب حتی کوسمو گوني Cosmogonip (دعالم دتشکیل سلسله) چه یوه فرضیه ده او جیولوجي Geology (دمځکې علم) هم دتاریخ دعلم له بحث او څېړنې لاندې راځي او په همدې وجه کله کله کوسمو گوني ته دعالم تاریخ او جیولوجي ته دمځکې تاریخ هم ویل کېږي (۳)

مگر په خصوصي لحاظ تاریخ هغه علم دي چه یوازې دبشر ماضیه تظاهرات مطالعه او تدقیقوي . او دغه تظاهرات سیاسي ، اقتصادي ، فکري او اخلاقي او نور دي (٤) چه دغه تعریف تاریخ له نورو علومو څخه تشخیص کوي .

په بل عبارت تاریخ هغه علم دي چه دبشري ټولنو دتېر ژوند واقعي څرنگوالي د یوځانله اصول (چه وروسته به ئې تفصیل راشي) په مرسته څېړي او پلټي او هغه پېښې چه دانسانانو دنیت او ارادې نه سرچینه نیسي دهغو ځای او نېټه ټاکي او دهغو علت او معلول او یو تر بله روابط ئې مطالعه کوي او مستحصله نتائج ئې څرگندوي .

فریدریک انگلیس د کمونست د گوند دبیانیې د کتاب په مقدمه کښې لیکي (٥) دلومړنی اشتراکي رژیم دانقراض نه راپدیخوا دبشري ټولو اجتماعاتو تاریخ عبارت دي دطبقاتي جگړو له تاریخ څخه چه داستثمار کوونکو او استثمار کیدونکو او دغالبو او مغلوبو طبقو ترمنځ همېشه پېښ شوي او پېښېږي .

راوندي په تاریخ تحولات اجتماعي کښې لیکي: (٦) چه مفاد ئې دادي :

مورخ باید دهغو تحولاتو منطقي علتونه چه دیوه ملت په اجتماعي ژوندانه کښې

---

(۱) دحسن عالي یوجل منطق ۲۰۱-۲۰۲ مخ

(۲) دحسن عالي یوجل منطق ۲۲۸ مخ

(۳) متودولوژي دډاکټر غلام عمر درسي نوټ دادبیاتو په پوهنځي کښې

(٤) دحسن عالي یوجل منطق ۲۲۸ مخ

(٥) مارکسیزم یا دمارکس اشتراکي مرام ۷-۸ مخ

(٦) تاریخ تحولات اجتماعي لومړي ټوک ۱ ، مخ

بولی (۱) خوبیاهم که (هېر) چه په پښتو کښې رخت اوزمان ته وائی (۲) اوستون چه دقید او معطل معنی لری (۳) که دواړه سره یوځای کړو نود (هېرستون) لغت (چه معنی ئی دوخت اوزمان قیدول دی) لاس ته راځی چه دابیا دهسټوری دنوم او مفهوم سره دځینو اصلی حرفو داشتراك له کبله ورته والی او نژدیوالی پیدا کولی شی. خیر دادفیلالوجستانو (ژب پوهانو) کاردی چه ددغه لغت (تاریخ) یا (هسټوری) اصلی ریښه پیدا کړی زمونږ مطلب دلته یواځې دادی چه دتاریخ لغت چه هرڅوك ئې هره ورځ اوپه هرځای کښې اوری اولولی دهغه لغوی معنی لږغوندی څرګنده کړو.

المنجد چه دیو ثقه عربی قاموس نوم دی کومه معنی چه ئې دتاریخ دلغت دپاره کښلی وه هغه موپورته ذکر کړه عیناً همغه معنی یوازی په نورو الفاظو او کلماتو کښې «منتخب» او «لغت سعیدی» داسې ثبتوی:

دیوه شی وخت څرګندول او دهغه علم نوم دی چه تېرواقعات ورڅخه دتاریخ په قید معلومېږی.

غیاث اللغات داسې لیکی: تاریخ په اصطلاح دوخت تاکل دی دیوه لوی او پخوانی او مشهور کارله ابتداء نه دبل کار تر ښکاره کېدو پورې چه وریسی دی ترڅو چه په راتلونکی وخت کښې داومړی او دوهم مشهور کار ترمنځ دوخت لیرې والی وموندل شی.

افغان قاموس تاریخ دیوه ملك او ملت حالات او واقعات ګڼی او وائی چه دوخت تاکل هم ضبط شوی دي.

راورتی پخپل پښتو او انګلیسی قاموس کښې د تاریخ لغت داسې معنی کوی: دوره دتاریخ مبداء عصر، دیوې میاشتې ورځې او کالنۍ پېښی.

تاریخ په لغت کښې دوخت ایښودلو اودزمان دابتدا اودکال دمبداء په معنی هم راغلی دی (٤)

د تاریخ دلغت او دهغه دمعنی په متعلق ګمان کوم همدومره به بس وی اوس به راشو ددې برخې دوهم جزته چه له هغه څخه مراد دتاریخ تعریف دی.

---

(۱) پښتو قاموس دوهم ټوك

(۲) پښتو قاموس لومړی ټوك

(۳) افغان قاموس

(٤) دتاریخ دتحول سیر دجاویدنو ټونه دادبیاتو په پوهنځی کښې

ب:-تعریف :

ځینې پوهان دموضوع په لحاظ علوم په دوه لویو برخو وېشي یوما دی علوم او بل معنوی علوم ، مادی علوم هغه دی چه دبحث موضوع ئې طبیعت اوماده ده.اومعنوی علوم هغه دی چه دهغو دبحث موضوع اومحور یوازې انسان اوبشری موسسات دی.

او بیا معنوی علوم په درې لویو برخو وېشی لکه روحی علوم (پسیکولوژی) اجتماعی علوم (سوسیولوژی) او تاریخی علوم (۱) چه یدغو کښې بیا تاریخ په عمومی لحاظ هغه علم دی چه تول هغه واقعات چه په تیره زمانه کښې پېښ شویدی مطالعه او تدقیق کوی (۲) چه یدې حساب حتی کوسمو گونی Cosmogonip (دعالم دتشکیل سلسله) چه یوه فرضیه ده اوجیولوجی Geology (دمځکې علم) هم دتاریخ دعلم له بحث اوخیړنې لاندی راځی او په همدې وجه گله گله کوسمو گونی نه دعالم تاریخ اوجیولوجی نه دمځکی تاریخ هم ویل کیږی (۳)

مگر په خصوصی لحاظ تاریخ هغه علم دی چه یوازې دبشر ماضیه نظاهرات مطالعه او تدقیقوی . اودغه نظاهرات سیاسی ، اقتصادی ، فکری او اخلاقی او نوردي (٤) چه دغه تعریف تاریخ له نورو علوموڅخه تشخیص کوی .

په بل عبارت تاریخ هغه علم دی چه دبشری تولنو دتیر ژوند واقعی څرنگوالی د یوځانله اصول (چه وروسته به ئې تفصیل راشی) په مرسته څېړی او یاتی او هغه پېښې چه دانسانانو دنیت او ارادې نه سرچینه نیسی دهغوځای او نیټه ناکی او دهغو علت او معلول او یوتر بله روابط ئې مطالعه کوی او مستحصله نتائج ئې څرگندوی .

فریدریک انگلیس د کمونست د گوند دبیانیې د کتاب په مقدمه کښې لیکی (٥) دلومړنی اشتراکی رژیم دانقراض نه راپدیخوا دبشری تولو اجتماعاتو تاریخ عبارت دی دطبقاتی جګړو له تاریخ څخه چه داستثمار کوونکو او استثمار کیدونکو او دغالبو او مغلوبو طبقو ترمنځ همیشه پېښ شوی او پېښیږی .

راوندی په تاریخ تحولات اجتماعی کښې لیکی:(٦) چه مفاد ئې دادی :

مورخ باید دهغو تحولاتو منطقی علتو نه چه دیو ملت په اجتماعی ژوند انه کښې

---

(۱) دحسن عالی یوجل منطق ۲۰۱-۲۰۲ مخ

(۲) دحسن عالی یوجل منطق ۲۲۸ مخ

(۳) متودولوژی دډاکټر غلام عمر درسی نوټ دادبیاتو په پوهنځی کښې

(٤) دحسن عالی یوجل منطق ۲۲۸ مخ

(٥) مارکسیزم یادمارکس اشتراکی مرام ۷-۸ مخ

(٦) تاریخ تحولات اجتماعی لومړی ټوک ۱ ، مخ

په مختلفو دورو کښې پېښ شوی دی و مومی. له دغه پورته جملې نه د تاریخ تعریف هم پوره څرګند ېږی.

دارنولد تاین بی په عقیده د تاریخ په تحقیق او مطالعه کښی منطقی او معقول او د درك او پوهېدو وړ واحدونه، ملتونه یا پېړۍ او زمانې او دورې ندی بلکه جامعې (سوسایټۍ یا مدنیتونه دی (۱).

نو پدې اساس تاریخ هغه علم دی چه مدنیتونه مطالعه کوی یا په بل عبارت تاریخ د مدنیتونو علم دی. داؤ هغه تعریفات چه د تاریخ په متعلق پوهانو کړیدی او س به د هغو مقولو په شاوخوا کښې بحث و کړو کوم چه له ډېرې زمانې نه راپدې خوا د تاریخ د علاقمندانو له خوا اورېدل کېږی.

وائی چه «تاریخ د بشر حافظه ده» دا خبره نه یواځی دا چه یوه بیخی سمه او معقوله خبره ده بلکه د تاریخ د علم بهترین تعریف هم ګڼل کېږی.

لکه څنګه چه انسان پخپل ژوند کښې د خپلو پنځو حواسو (لکه باصره، لامسه، شامه، سامعه، ذائقه) د لیاری له بیرون نه خیالات افکار او احساسات او ادراکات خپل شعور او حافظی ته سپاری او بیا د ضرورت په وخت خپلی حافظې ته مراجعه کوی او له هغی څخه پخپل ژوند کښې مرسته غواړی په همدې ډول بشری ټولنې هم خپل ټول اعمال، اقوال، افکار، خیالات او خپل هر راز پېښې د تاریخ پاڼو ته سپاری او بیا هر څوك کولای شی چه د هغو له مطالعې څخه د یو موفقانه ژوند د پلاس راوړلو په لیار کښې تری کار واخلی.

هو! لکه څنګه چه د یو انسان د پاره حافظه د هغه د شخصیت ډېر ستر رکن او د موفقیت بهترینه وسیله ده په همدې ډول تاریخ هم د یوې جامعې او یا د یو ملت د هویت پاڼه ده او په ژوندانه کښې د هغو بهترین مربی او رهبر، ګڼل کېږی.

که حافظه نه وی، نو انسان که یو ځل په اور سوی وی په هغه اور بیا بیا ځان سوزوی که یو ځل له ناکامۍ او بدبختۍ سره مخامخ شوی وی، بیا بیا ور سره مخامخ کېږی ځکه. هغه وسیله چه انسان د هغه په ذریعه د بدبختیو او ناکامیو له تکرار څخه ځان ژغوری هغه حافظه ده.

په همدې ډول د تاریخ نشتوالی او یا له تاریخ څخه بې خبری هم د غسی لوبې په یو فرد او یا په یوه ټولنه باندې کوی، کوم چه د حافظی نشتوالی ئې په انسان کوی.

نو پدغه وجه تاریخ ته کله کله د عبرت پاڼه هم ویل شویده.

پهرحال تاریخ نه یواځې دا چه د بشر حافظه او یا د عبرت پاڼه ده بلکه وائی چه تاریخ د ټولو علومو مورده.

---

(۱) فلسفهٔ نوین تاریخ ۱ـ مخ

لکه څنګه چه د بیولوژی حیوانی او نباتی قوانینو له مخی نطفه د مذکر جنس د تذکیر له الې نه د مونث جنس په تخمدان کښې د لویدو سره سم ژوندی پاتې کېږی او هلته خپل ابتدائی تشکل مومی او ورو ورووده او تکامل کوی په همدې ډول د بشر د حوادثو، اعمالو خیالاتو افکارو او اقوالو نطفه لومړی له اجتماعی او اقتصادی اوضاعو او له محیط او ماحول څخه چه د مولد حکم لری تولید یږی او بیا هغه څوک او یا هغه شی چه دغه نطفه پخپل ځان کښې ساتی او وده او نموور کوی او د زمانې په گرداب کښې ئې له ډوبیدو او ورکیدو څخه ژغوری هغه د تاریخ غېږ او د تاریخ پاڼی دی نو ځکه پدغه اساس چا چه تاریخ ته د علومو مورویلی دی بې ځایه نده:

رښتیا هم داده که په ریاضیاتو کښې دا کلیدوس نظریات، په میخانیک کښې دا رشمیدس نظریات په علم نجوم کښې د کوپرنیک نظریات، په فزیک کښې د گالیله نظریات، په کیمیا کښې د لاوازیه نظریات، په بیولوژی کښې د بیشات او کلود برنارد نظریات او په علم الاجتماع کښې دا گوست کونت نظریات تاریخ نه وای ساتلای نو د دغو علومو علمی موجودیت یا خو به نه وای او یا به ئې موجودیت څه موده وروسته منځ ته راغلی وای ځکه بشری حالات، اوضاع، اقوال، اعمال او پېښی څو شیه له منځه وړی یو خو د بشر د فراموشۍ طبعی خاصه ده بل د زمانې او وخت د تېرېدو کیفیت او بل جنګونه او انقلابونه دی چه دا درې واړه هر یو پخپل ذات کښې د یو فکر او یا د یوې حادثې خاطره بالاخره له منځه وړی او ورکوی ئې مګر یو څه شی چه دغه خاطرات دا بد د پاره یا خو ژوندی او محفوظ ساتی او یا ئې ژوندی کوی هغه تاریخ او د تاریخ تحقیقی اصول او ارکیالوژي Archae logy (ارغون پوهنه) ده او بس .

د ښاغلی « جاله وان » په قلم

جرم او سزا

مابت خان کاکا وویل زه دما سختن دنمانځه نه پس کورته روان وم چه په لار کښې دهمیش کل په دکان ناست « ملك شماس خان » راته آواز کړ چه مابت خان کاکا! « زما درسره یووړو کی غوندی کاردی » (ملك شماس خان) له دوکانه را کوزشو- یوې خواته ئې بوتلم اورا ته ئې وویل دمابت خانه! ته خو دورو کوالی را هیسې ځمابې یردې یار ئې او ما خپل هیڅ راز تراوسه تانه پټ کړی نه دی تاته به شاید معلومه وی چه سباله په مشن کښې د(پیروزی) آخری تاریخ دی یا به بری شی او یا به دپاتې سی حکم بری وخیژی (پیروزی) دوی ته دصفائی دو کیلانو ډېر سخت ضرورت دی که تامهربانی وکړه او سباله دی په عدالت کښې صرف دومره وویل چه په کومه شپه چه په (پیروزی) د(شکور) دوژلو الزام دی پیروزی په هغه شپه له ما ښام نه تر سهاره پوری زمونږ سره د(بری باندی) دخان کل بابایه حجره کښې یو ځای ناست پاست او ملګری وو په دغه شپه دخان کل بابایه حجره کښې دمې او مجلسیان راغلی وو او مونږ سره (پیروزی) درسته شپه څه چه دسهار ترخرې پوری مجلس ته ناست وو.

مابت خان کاکا وویل: ما چه د(ملك شماس خان) داخبری واوریدې نو می ورته وویل چه ملك صاحب! ستا مخ را باندی ډېر گران دی ستا مخ په هیڅ قیمت غورزولای نه شم ولی داهم یوتر یخ حقیقت دی چه د(پیروزی) له پاره په عدالت کښې دنا حقی گواهی په وجه به دشکور دښمنی خواه مخواه زما په غاړه شی او داهم هرچاته معلومه ده چه پیروزی په دا گ میدان سم دما ښامه شکور وژلی دی کهزه دی ددی نا حقه گواهی او شهادت نه لری وساتلم نو ډېر به دی مشکور یم، ملك شماس خان زما په دی خبر و آوریدو بق بق یه حند اشو چه مابت خانه! تاخورانه دزبر گانو دفلسفې کتاب پرانست دعمل او تجربې دمیدان خبری کوه، مابت خانه! حق او نا حق ته نن سباڅوك گوری داخو وسی دبری کاردی او پری جنبی دښمنی او تربګنی تربورولی او عداوتونه خوپښتنو ته په میراث کښې رسیدلی شیان دی نن زه ستا درنځ دارو او سباته ځما دمرض علاج که خدای مکړه سباله په تاخه بده ورځ راغله نو په ایمان که هیڅوك هم درسره انصاف وکړی او دهر چا چه درباندی وس او لاس رسی نود خدای دپاره به دی دتباهی او بربادی ژوری کندی ته یوقدم نورهم ورتیلوهی ».

مابت خان وو یل: که زه شوم او که
ملك شماس خان ولی ځما دلائلو او منطقونو
په هغه هیڅ اثر ونکړ دبنده مخ دخدای دنوره
دی ځما ستر گی دهغه نه وشرمیدې او ورته می
و ویل چه ښه ده دپښتو نولی سوال چه
تامینځ ته راؤست نوخالص مخلص ستا
دمخه به سباعدالت ته ورشم او دپیروزی
دپاره به دروغ شهادت و کړم».

دشپی چه مایه کټ کښې ډډه ووهله نو دپښتنو
دپنځوزرو کالوزوړ تاریخ راته راوړاندی شو
د پښتون دعظمت، جاه جلال او د بد بی
تول واقعات لکه دسینماد پردی وار په وار
زما په ذهن کښې تیرشول او په دی پسی جوخت
دپښتون دنفاق تر بور ولی دښمنی او
تربگنی اغسوسنا کو خبرومې دتصور په دنیا
کښې غورزنگونه ووهل او د ځان سره می
وویل کاش چه دپښتون قبا دنفاق او یوبل
نه دچټی بدل اخستو تبا کن چینجو تار، تار او
خسنی، خسنی کړی نه وای، کاش چه پښتون
په تهانو کچهرو او عدالتونو کښې دیوبل
خلاف دمقدمو په ځای خپل وخت، مال او
دولت عقل پکر او تجربه دخپل تعمیر ودانی
ودې او ترقی په کارونو لگولې وای، لنډه
دا چه توله شپه می دپښتون دبدی ورځی په
هر یو اړخ په رنگ رنگ سوچونو او فکرونو
کښې تیره کړه سبا له چه می مونځ و کړو
نو خدای ته مې ډیر په عاجزی سوال و کړو
چه پاك پرور د گاره! زه نن ددروغ شهادت
دپاره روان یم.

د کلی کلی ولی ده مجبوری بده بلا ده
چه ما په دی گناه و نه نیسی!

عدالت ته چه ورغلو نو څه گورم چه
عدالت نه دی یوه عجبه غوندی هنگامه ده
ډیر ښکلی او ښائسته پښتانه ځلمی څوك
بیړی ءشرنگوی، څوك ددواړلاوسونو نه په
هتکړو او زنځیرونو تړلی دی) کیلان او
مؤکلان څوك بوخوازغلی او څوك بل خوا
اخر پیروزی ته هم اوازوشو، دصفائی شاهدانو
دخپل خپل صفائی شهادتونه او گواهی
ورا کړی ما هم دصفائی شهادت ورکړو او
منصف زمونږ ددې شهادتونو نه پس خپله
فیصله واورو له چه پیروزی بیگناه دی او په دی
وجه زه هغه بری کوم- دپیروزی دبری کیدو غږ
دهغه پخپل خپلوانو او ډله امیز خلکو
داختر نه هم زیاته خوشالی راوسته- او بل
پلو دشکور دښایسته ځوانی په خاورې
ایرې کیدو هډو چرت دچاخراب نه وو-
دپیروزی دی خپلوان او ډله امیز دیوفاتح
لښکر په شان دغرور په نشه کښی مست
کورته را روان وو- او هر یوه په بریتولاس
وهل- لکه چه مغلې ئې کنډی کړې
او آسمان ئې راتیټ کړی وی په دغه ورځ
آسمان هم دبیگناه وژلی شوی شکور په غم
او ماتم کښې دتورو وریځو نقاب اغوستی وو-
او مونږ چه کلی ته لږ را لنډ شو- نو په دی
کښې ناگهانه سیلیء او جکړ او ورپسې
جوخت ناتاره شیبی شوې- آسمان له ډیره تاوه

مجله ک

او قهره په مخه گرزیدو - او چه گرزی شو
نو دیو گرز سره سم تندرهم پریوت زه
خدای خبر چه ولی وبو گنیدم - او په زړه
کښې می دا خبره تیره شوه - چه هسی نه
دا تندر زما په کور پریوتی وی.

ځکه چه دروغ گواهی می کړی ده - ولی
کور ته چه راورسیدم - نو خیر خیریت وو - تندر
باهر په میره کښې په ونو پریوتی ؤ زما په
کور نه - دشپی بیا دخدای دقهر دویری خوب
نه راتلو - او خبر نه یم چه څه وخت می
ستر گې ورغلی دی - خوب وینم - چه
دقیامت لویه ورځ ده - او په ډیر لوی
وسیع اوارت بیرته میدان کښې په کروړونو
اواربونو خلك راجمع شوی دی - چه هر یو سړی
دخدای دلوی ذات په وړاندی دخپلو کړو
وړو حساب او جواب ور کړی - هر یو سړی
پخپلو خولو کښې ډوب دی - ورور دورور
او مور دلور - او پلار دځوی او آشنا دآشنا نه
بیزاره او ناخبره دی - دچا ددوو په ځای
څلور ستر گی او دچا په سر لوی لوی ښکرونه
ولاړ دی - دچا اوږدې اوږدې لکۍ په شا
راوتلی دی - څوك په څلور بولی لکه دڅار وو
روان دی - او دچا ژبې ددوی په وجود
پسې راخکی شی -

څوك په یو رنگ په لعنت شوی دی
او څوك په بل رنگ - اوزه چه دی لعنتی
خلکو ته گورم - نو دویری راباندی غونی
ځیږ ځیږ کیږی - غواړم - چه چرته
داسی غاړې ته ورشم - چه دا په لعنت شوی
بندیان مې ستر گې نورونه وینی - ولی چه بل
خوا گورم - نو ستر گی می داسې بندیان وینی
چه په گزونو اوږده غاښونه ئې دخولو نه
باهر ته راوتلی دی - دچا په وجود ونو
لکه دوحشی ځنا ور ځنگل ځنگل تک
تور او ډیر غټ غټ وېښته ولاړ دی - دچا
دلاس او خپونو کونه لکه دبیلچو باهر ته
راوتلی دی دچا دومره لوئی لوئی خیټې
راباهر شوی دی لکه چه په شل گونو دیگونه
وریوری چاتړلی وی - دی هیبتناکې تماشی
ما نه یو دوه خطا کړی وو - چه په دی کښې
یو زبرگ صورت انسان زما خواله راغی - لاس
ئې وروغوندې زما په اوږه کېښود - او راته
ئې وویل - ما بت خانه ودې کتل دخدای په
قهر ککړ شوی خلك، دا چه په څلور بولی
روان دی - دا هغه خلك دی - چه همیش
به په حرامو او ناجایزو پسې روان وو -
دا چه ژبې وریورې ځانگی - دا هغه بدبختان
دی چه دکال دولس میاشتې به ئې دروغ
ویل - دایمان په ځای به ئې گوته اېښوده -
او حقه خبره کول به ورته کفر ښکاریده -
دا چه ددوو په ځای ئې څلور او دتندی
په ځای ئې په څټ کښې بقی بقی ستر گی راوتلی دی
دا هغه اوږ ستر گی دی - چه همیش به ئې
دبل مال او حق ته ستر گې نیولې وی - دا چه

دغټ غټ سټانو او مشکو نو غوندې لوئې لوئې
خټې ئې باهر ته ځانګې - داهغه حرام خواره
او خائنان دي - چه دلوبو لوبو کر سيو -
عهد راو مرنبو خاوندان وو - خيانت يې
دين او ايمان کړنه - دحرص طمع اولالچ
کيدې ئې چرې مم نه ډکيدې - دا چه په
کزونو اوز دي لګې وريوري نښتې دي -
داهغه ظالمان دي - چه خپل ننګ ناموس -
غيرت اوحيا به ئې په پيسو خرڅوله دغه
نور غداران - وطن فروشان - د خپلې
خاورې او وطن دښمنان دي - چه په
سرونو ئې لوی لوی بيشماره ښکرونه ولاړ دي -
داچه مشادي ئې بدلې شوې - څوك د بدحنزير
په شکل کښې وينې څوك د مارانو او څوك
دلړمانو - داهغه بدبختان دي - چه د پردو
او غيرو ديباره به ئې دخپل ملك وطن او خاورې
سره خيانت او غداري کوله - د خپل عيش
معاش ديباره به ئې د خارجيانو مخبري
او جاسوسي کوله لنډه داچه دلته هر بو
سړي ته دخپل جرم سزا ورکړې شو بده څوك
راندې او څوك شل کوډ - ځينې ليونې
او بعضې باتربا - څوك په ننګو يمن او څوك
په داسې حال کښې دقبرونو نه راوچت
شوي دي - چه وجودونه ئې ښې آدمودي -
او مخونه ئې دبدلبو ګانو - مابت خان
کاکا وويل - ماچه د قيامت دورځې دا
بو ګنوونکې - هيبتنا که او دعبرت نه ډکه
تماشه وليده - نو په خوب کښې مې دې
انتها وبرې په وجه دکنه اوچت راو دانګل -
او دډير هيبته ددبوال خوانه په پرتو منګو يو
ګرزې شو چه رايې هوتم - ررزرمې به مخ
سرلاس او خپو اوشالاس وواهه - چه چرته
مشاده حومې بدله شوې نه ده - هسې نه چه
الګې مې شوې وې - خکه چه ماهم پرون
په دروغه شهادت او ګواهي کړې وه او هسې
نه چه په لعنت شوې يم »

مابت خان کاکا په خندا خندا کښې
وويل - په ټول وجود چه مې لاس وواهه
او ټول اندامونه مې سم سم وو - نو د شکر سره
جوحت مې نو به هم وښکه - چه پس ددې هرڅه
چه وې که سرزانه څوك نغرې کړې او که
دنامې دنيا دښمنې رانه رابيښې خو والله
بالله که بيامې چرې هم دچاد باره په دروغو
ګواهي وکړم.

دښاغلی محمد حسن کاکړ

لیکنه او څېړنه

د فلسفی په شاوخوا کښی

مونږ وینو چه ډېر کسان د فلسفی له کلمې څخه ډډه کوی او دا نه خوښوی چه په ارادې ډول یکښی واردشی او بحث پرې وکړی. د دوی په فکر فلسفه یوازې له مجردانو څخه بحث کوی او داسې سلسلې څېړی چه د ژوندانه له څرنګوالی سره اړه نه لری دا راز تفکر ځانله علتونه لری یو خو دا چه فلسفه په داسې مبهمو او انجړو کلمو کښې اداشوې ده چه زیات کسان پرې هیڅ نه پوهیږی او په اصطلاح، سرئې پرې نه خلاصیږی بله د موضوع خبره ده ډېرو متفکرینو مجردات څېړلی دی او دهغو په باره کښې ئې داسې نظرئې څرګندی کړی دی چه دوګړو له ژوندانه او دهغوی له طرز تفکر سره کوم ارتباط نه لری مثلاً ځینې وائی چه فلسفه د «باطنی ادراك علم» ته وائی ځینی ور بیا وائی چه له فلسفې څخه مراد د «ټولو علومو مجموعه» ده او یا فلسفه له عامو مبادیو (۱) څخه بحث کوی او د متافزیك او ماوراء الطبیعه مبادی او علتونه څېړی او کوښښ کوی چه دهغو د معرفت، ارزښت او درجه ویلټی. (۲)

معلومېږی چه پورته تعریفونه له یوې خوا جامع او کامل نه دی بلکه نیمګړی او ناقص دی، په بل عبارت دا فرادو جامع او داغیارو مانع نه دی حال دا دی چه د دې پرنسیپ تطبیق د هر مفهوم یا شی فنامنا یا حادثې په تعریف کښې لازمی او حتمی ښکارېږی او بېله دې د یوه مفهوم حد او حدود او موقع هیڅ نه معلومېږي او تعریف سرته نه رسېږی مثلا که فلسفی ته د «باطنی ادراك علم» ووایونو افاقی او خارجی جهان باید ګرد سره هېر کړو او یوازې باطنی او انفسی نړۍ ته ځیر شو همدارنګه ټول پورتنی تعریفونه، له یوه سرسری تحلیل نه وروسته ښکارېږی چه نیمګړی او ناقص دی او په هیڅ ډول نشی کولی چه هغه مفهوم او تعریف چه په فلسفه کښې پروت دی ادا کړی له بلی خوا پورتنی تعریفونه دومره انجړ او غامض نیول شوی دی او په مغلقو الفاظو کښی اداشوی دی چه پوهېدل ئې د ټولو د پاره آسان نه دی

۱- د فلسفې مقدمه د کولپه تالیف

۲- روحیات د غلام حسن مجددی تالیف.

اوداسې بریښې چه دڅوتنو تش نومو متفکرینو دپاره بیان شوی دی، په بل عبارت معلومېږی چه فلسفه هم اوس دیوې طبقې دپاره خاصه شوی ده او هڅه کېږی چه دژوندانه دنورو وسیلو په څېر له دې څخه هم عام خلك محروم کړی او یکښې برخه ورنه کړی همدغه علت دی چه زیاتره خلك حتی دېر تعلیمیافته گان هم میل نه لری چه دفلسفې په شاوخوا کښې وگړېږی او بحث یکښې وکړی نو دادی زه کوښښ کوم چه ترخپلی وسې دفلسفې اصل مفهوم په ساده او روان عبارت واضح کړم او وښیم چه فلسفه اوس له انحصاره څخه وتلې ده او حتی هر څوك دخپل ظرفیت فکر، شخصیت او معلوماتو او تجربې په اندازه فیلسوف دی او په فلسفه پوهېږی البته دچا چه معلومات زیات او دفکر میدان ارت وی او له ساده او بسیطو حوادثو څخه لوی لوی حقایق راباسی او دتعمیم قوه ئې دقیقه او عمیقه وی او کولی شی محیطی جریانات، فنامنا، حوادث او یا مروجه او معموله عامیانه عقاید او نظریات په علمی او دقیق ډول نر فارمول لاندی راولی یعنی فارمولیزی ئې کړې او کلیات ترې وباسی او علمی رنگ ورته ورکړی په داسې ډول چه په افکار او کلام او قایم شوو کلیاتو او پرنسیپونو کښې ئې اضداد او تناقضات نه وی، هغه به هم لوی او ستر فیلسوف وی او په شرق او غرب او شمال او جنوب یعنی په ټوله نړۍ کښې به ئې افکار خپاره وی او وگړی به ئې تر ډېر وخت پورې تر تاثیر لاندې وی برعکس دکوم انسان په طرز تفکر کښې چه پورته صفتونه لږ وی، افکار او نظریات او جهان بینی به ئې هم محدوده او انفسی وی، نو ځکه به ئې اثر او نفوذ هم کم وی، دی به هم یو وړوکی متفکر او فیلسوف وی او نه به شی کولی چه حتی ډېر نژدې کسان هم تر تاثیر لاندې راولی داسې فیلسوف به هم دیو څو پیروانو خاوند وی.

له دې څخه داسې بریښی چه فلسفه له نورو ستورو یعنی له مریخ، مشتری... څخه تیاره، غونډه منډه نه ده راښکته شوې او یا داچه فلسفه دکوم نابغه او فردی دماغ زېږنده نه ده، بلکه اساس او بېخ ئې په یوه تاکلی او معین زمان، مکان، او اجتماع کښې دی او د فیلسوف فلسفه او نظریه او جهان بینی به ارومرو دهغه دمحیط او اجتماع انعکاس او ممثل وی او دهغه له اجتماع سره به پوره تړلی وی.

هو دومره ده چه فیلسوف دیو لوی او مستعد متفکر شخصیت په حیث د نظریاتو په فارمولیزی کښې، لکه چه ړومبی وویل شو لوی رول لری چه عادی کسان ترې عاجز دی څرنگه چه محیطونه، شرایط، زمان، او مکان سره بېل دی او فرق لری، او تاریخی جوامع او دورې هم ځانله او بېل خصوصیات او څرنگوالی لری نو ځکه فلسفی هم رنگ

یه رنګ او یو دبل متمم او مکمل دی مثلا ځینی خلك عقیده لری چه نړۍ دا و ښکو تو یولو یو تېرید ونکی او فانی میدان دی او زمونږ ژوندپکښی فقط د یو بل ښه او بهتره ژوندا نه او دایمی جهان دپاره تیاری دی، په دی لحاظ ټولی سختۍ او زحمتو نه چه په مونږ را ځی باید وئی ګډلو او کوښښ و کړو، له نورو و ګړو سره نیکی او ښه و کړو او د هیچا په مقابل کښی مبارزه او جګړه و نکړو او انقلاب څخه ډډه و کړو او تل مطیع آرام او منقاد و او سو؛ دا یو قسم فلسفه ده، ددی برخلاف ځینی نور بیا وائی چه غریبی او شتمنی خواری او عزت له اجتماع او د هغه له نظام څخه پیدا کیږی او نړۍ دژوندا نه د بقاء یوه مبارزه ده او په دې ډول د اجتماعی بی عدالتیو او نارو انظامو په مقابل کښی ټینګار مظاهره، اعتصاب، جګړه، انقلاب او دټولو هغو وسیلو استعمال چه دهغو یه واسطه اجتماعی بیعدالتی او استثمار ور کیږی او په ځای ئی اجتماعی دایمی عدالت او مساوات قایمیږی روا، مشروع، جائز، فطری، ضروری، او حتمی یو کار دی. دا یو بل قسم فلسفه ده ددې یورته لنډ بیان یه رنا کښی مونږ کولی شو د فلسفی تعریف د انسان یه جهان بینۍ و کړو یعنی فلسفه دا معنی لری چه یو انسان دنړۍ د ماهیت او انسانی موقف یه باره کښی څنګه او څه فکر لری، یعنی جهان بینی ئی چه دی یه خپله هم د جهان بو جزء دی، څه او څرنګه ده دانسان دغه. جهان بینی عموماً یه لنډو تقسیما تو کښی. شامله ګڼل کیږی.

۱- عالم حال او طبیعت څه شی دې؟ ایا دغه نړۍ او جهان یه یوه شیبه (کن فیکون) کښی پیدا شو او که د تکامل یو تدریجی سیر منځ ته را و وست؟

۲- یه دې عالم کښی انسان څه موقف او موقعیت لری؟

۳- خیر او شر څه شیان دی؟ کوم آسمانی مقیاس لری او که یه هر قوم او زمان او مکان کښی فرق کوی؟

٤- د خدای تعالی (ج) ذات او ماهیت څه شی دی؛ او څه؟

ایا دی قادر مطلق او د ښو او بدو مالك او د عدالت کل مظهر دی او که د ده واك او د خالت یه بشری کارو کښی هیڅ نشته؟.

٥- جبر دی که اختیار؟ زمونږ یه کارو کښی تقدیر لاس لری او که آزاده اراده؟

٦- روح او د هغه پایښت؟ یعنی روح څه شی دی او څه طبیعت او ماهیت لری؟

۷- انسان له دولت سره څه رابطه لری؟ دولت آسمانی او روحانی منبع لری او که انسانانو جوړ کړی.

پاته یه ۲۲ مخ کښی

غوښتنه

بیامی په ساره جهان یوه کرمه غوغا راوله
تللی په ژړا ژوندون می بیا په خندا راوله
داداعلی زړونه په خندا لکه لاله چه شی
داسی بهارونه دپښتون په دنیا راوله
پندي قافلې درنګ اوبوی په پښتونخوا کښی کړ.
نوی پسرلی دقومی ژوند ورته بیارا وله
بیائی سرخ روئی دسپیرو خاورو په نصیب کړه ته
نوی آب اوتاب په دې زړه پښتونخوا راوله
خدایه اشپې اوورځې دپښتون دهرچا هیری شوې
بیائی هیری شوی شپی اوورځی به شا راوله
تول ئی چه بیدار په یو اثر دمرګ له خوبه شی
دی تیاره وطن ته یو د علم سپار اوله

د ۲۱ مخ پاته

۸ ـ فرهنګ او کلتور څه شی دی ؟

څوك باید فرهنګ کنترول کړی ؟

دولت که ولس ؟ آیا دفرهنګ مطلب باید داوی چه آزاد انسانان تربیه کړی اویا داسی انسانان وروزی چه دولت اوزورورووا کولانوته تابع اومنقاد اوسی ؟

۹ ـ فکر او ماده څه شیان دی ؟ کوم یو تقدم لری ؟ فکر که ماده ؟

۱۰ ـ دخیا اونو او فکر ونو منبع چیرته ده ؟ په مغز کښی او که په بهرونی افاقی نړۍ کښی (۳).

(پای)

---

(۳) پورته لس گونې مسئلې په لنډ ډول دډاکتر پازاذګا، دسیاسی فلسفی دتاریخ له لومړی ټوك څخه اخیستی شوی دی .

دښاغلي ثابت تتبع او ليکنه :

پښتانه د نورو په نظر کښې

د «مجله افغانستان» په اتمه گڼه کښې د ۱۳۸۷ ق ه کال د محرم میاشت د ۱۹۵۷ ع کال په اگست کښې د مصر یو عالم «استاذ عباس محمود العقاد «افغانستان و انتشار الاسلام - فی الهند» تر عنوان لاندې یو مضمون لیکلی دی، او ځینې غوره مطالب یې د پښتنو په نسبت بیان کړی دی، د نوموړی له دغې لیکنې څخه څرگندیږی چه دی ښه عالم او د پوره معلوماتو خاوند دی، ده د پښتنو د تاریخ غوره تکی لیکلی او په ښه توگه یې د پښتنو حق ادا کړی دی، چه د پښتنو په تاریخ کښې زیات د قدر وړ شیونه دی، خو چه د ده لیکنه مختصره او لنډه ده، پوره تفصیل نلری او پوره معلومات ور څخه نشی اخیستل کیدای نو ما و غوښتل چه د پوره معلوماتو او پوره مقصد حاصلولو په غرض دغه موضوعاتو ته لږ څه نور هم شرح او بسط ورکړ شی نو څرگنده به شی چه د پښتنو تاریخ خورا لوړ او د افتخار وړ دی، دا هم څرگندیږی چه د نوری د نیا خلک هم افغانستان او پښتانه په خپله حقیقی معنا پیژنی او د زیات قدر په ستر گو ورته گوری.

نوموړی لیکونکی د پښتنو موقف په دری شکلو نو ویشلی دی

اول: د بنوامیو د امپراتورۍ په مقابل کښې د پښتنو موقف.

دوهم: د عباسی امپراتورۍ په مقابل کښې د پښتنو موقف.

دریم: د هند په برابر د پښتنو موقف او په هند کښې د اسلام خپرونه.

وایی: (کوم وخت چه د بنوامیو له امراؤ څخه پښتانه بیزاره شول، نو د هغو امپراتورۍ سقوط کړو، او د هغوی په عوض د عباسیانو دولت ودرید) او وایی: (د عباسی دولت په دربار کښې د پښتنو د برمك له کورنۍ څخه وزیران مقرر وو چه په دولتی اداره کښې یې اشتراك لاره او له پښتنو څخه طاهریان او سامانیان د هغو د حکومت په وختونو کښې والیان او امیران وو).

او وایی: (د هندوستان په فتح او په هند کښې د اسلام د خپرولو له حیثه افغانی دولت د بغداد دولت کفاله وکړه او پخپل ذات کښې دا کار یو خورا ستر او مهم کړؤ، چه له بنوامیو څخه وروسته بیا بل قوم د اسلام د پاره دومره ستر خدمت نه دی کړی!)

(د هند فاتحین او په هغه ځای کښې د اسلام ناشرین یې دری افغانی دولتونه: د غزنویانو دولت، او د غوریانو او غلجیانو دولتونه یاد کړی دی په تیره ئی د سلطان علاء الدین غلجی ستاینه کړې ده.)

وایی: (دسبکتگین کورنۍ که څه هم نژاداً پښتانه نه وو، خو په پښتنو کښې پیدا شوی او هلته روزل شوی وو، او ددوی سیاست د پښتنو له خوا پرمخ بیول کیده، او ددوی د حکومت ساتنه د پښتنو د بازو په زور وه، او ددوی فتوحات د پښتنو په تور ه وه، نو لازمه ده چه ددوی ټول کارونه پښتنو ته منسوب شی او وه!)

غواړم دده د دغو موضوعاتو په باب کښې چه د پښتون قوم ځینې تاریخی مهم حقائق بې په اجمالی شکل لیکلی دی توضیح وکړم چه ښه څرګنده شی چه د «امیو» په زوال او د عباسی دولت په وجود راوستلو کښې پښتنو څه څه اثرات درلودل؟ او د پښتنو له خوا د هند فتح او په هغه پراخه ځمکه کښې د اسلام د مقدس دین خپرول په څه ترتیب شوی دی؟

کوم وخت چه د اسلام مقدس دین افغانستان ته راورسید او د افغانستان ټول خلك په اسلام مشرف او د امقدس سپیڅلی دین بې ومانه او د اسلام په تقدیس، عدالت، انصاف او تهذیب او غوره فلسفه وپوهیدل، نو پښتنو په خورازړه خوښۍ سره نور خپل پخوانی مسلکونه پرېښودل او اسلام ئې د ځان د فلاح لپاره غوره لاره وګڼله او په زیات اخلاص بې د خپل حق دین اسلام د احکامو پیروۍ ته ملاوتړله او ټکی په ټکی بې د اسلام د اوامرو متابعت ومننه کوله.

علاوه له دې د اسلام پیشوایانو په پښتنو کښې ډېر زیات قدر او منزلت درلود، پښتنو له خپل رسم او عادت سره سم د هغوی احترام او اکرام پر خپل ځانو بولازمی امر ګڼه بالخاصه د حضرت رسول الله (ص) له زوزات او آل بیت سره د پښتنو مینه او محبت داسی یو امرؤ، چه د پښتنو او نوری اسلامی دنیا په مقدراتو کښې د ستر تحول باعث شوی دی.

په اسلام کښې خلافت: هغه وخت چه د افغانستان وګړی د اسلامی نړۍ په سلسله کښې داخل شول، او له مسئله د اسلام د خلافت خبره وه یعنی ټول مسلمانان باید د یوه اسلامی مرکز تابع او د یوه خلیفه تر بیرغ لاندی وای، او چه د اکار هم د اسلام له مهمو مقرراتو څخه ؤ نو پښتنو ومانه او پخپله دوی هم د اسلام په امپراتورۍ کښې شامل او د دغی امپراتورۍ یو جزء وګرزیدل له همدغه امله د اسلام د خلافت اطاعت د اسلام د مقرراتو له جملی څخه ؤ نو کوم څوك چه به د اسلام د خلافت له مقام څخه ووت او ځانته به بې ځانګړی مقام غوره کاوه هغه به باغی او د اسلام له اوامرو څخه متمرد ګڼه کیده، او نور مسلمانان به هم به هغه چاپسی نه تلل او له اسلام څخه مخالفت کوونکی به معرفی کیده، نو له همدغه کبله ؤ، چه پښتانه په ښه مینه او خورا صمیمیت سره په هغه خلافت کښې داخل او ځانونه بې د دغی امپراتورۍ یو جزء وګڼل او بې له کوم توپیره ئې د اسلام د مقدس دین د پرمخ تګ او توسعی د پاره ځانونه چمتو کړل چه په دی لاره کښې له عربو او نورو مسلمانانو سره اوږه په اوږه ودریدل

لکه چه د سند او ماوراءالنهر او نورو سیمو په فتوحاتو کښې پښتنو پوره برخه وا خیسته اوله همدی امله له اسلامی خلافت څخه دباندی د پښتنو د مستقل او گوښی حکومت جوړولو سوال هیڅ منځ ته نه راځی او دانشی ویل کیدای چه پښتانه ولی د دغی امپراطوری تابع اوله هغوی سره یو ځای شوی وو ځکه د دوی او دهری منطقی د مسلمانانو سره یو ځای کیدل د اسلامی مقرراتو له جملی څخه گڼل کیدل. خو سره له هغه هم د اسلام د حضرت څلورم خلیفه له خوا د پښتنو دپاره د خپل هیواد د حکومت اجازه وشوه او د دوی حکومت یی ومانه.

د پښتنو امارت:

کله چه په تو له اسلامی نړۍ کښی د پښتنو توره او شوکت د اسلام خلفاؤ ته څرگند او ښکاره شول او ورته ثابته شوه چه پښتانه د اسلامی خلافت او د مسلمانانو یو قوی او غښتلی عضو دی. نو د اسلامی خلافت په دننه کښی چه له اسلامی خلافت څخه جلا او ځانگړی نه وی، خلیفة المؤمنین د پښتنو مستقل او آزاد حکومت تصویب او ومانه.

حضرت څلرم خلیفه (علی کرم الله وجهه) د غور پاچا (ملک شنسب) د افغانستان به پاچاهۍ ومانه، او هغه ته یی د افغانستان د پاچاهۍ منشور، ورکړ او دی یی به غور کښی د افغانستان د پاچا په حیث ومانه، ځکه چه ملک شنسب د پښتنو له ډیری پخوانۍ پاچاهی کورنۍ څخه ؤ، چه تر میلاد پخوا زمانو بلکه تر تاریخ وړاندی زمانو کښی هم د مرکزی آریانا (افغانستان) واکمنی او پاچاهی د دغی ستری پښتنی کورنۍ په لاس کښی وه.

بلکه مرکزی آریانا لاڅه په دباندنیو هیوادونو باندی هم دغی کورنۍ پاچاهی او سلطنت لاره چه د دوی واکمنی او سلطنت نر ایران او هندوستان پوری رسیدلی ؤ.

لکه چه د نوموړی غوری شنسب ستر نیکه (سهاك) د ایران پر هیواد باندی ډیر کلونه پاچاهی کړی وه، او د پښتنو یو خورا ستر او نامتو پاچا تیر شوی دی، دو هم د نوموړی سهاك له زوزات څخه (بسطام) نومی ټولواك د دغی غوری کورنۍ د پخوانو پاچاهانو په سلسله کښی تیر شوی دی چه د هندوستان پر آریائیانو ئې هم پاچاهی کړی ده او د دغی سلسلی یو ډیر غښتلی او نومیالی پاچا تیر شوی دی، چه په اخیر ووختونو کښی بیرته خپل هیواد مرکزی آریانا ته راغلی دی، او خپل آبائی او اجدادی سلطنتی مرکز (بامیانو ته) راغلی او د مړینې تر وخته پوری په دغه ځای کښی پاته شوی دی، علاوه له دغو اشخاصو په نوموړی پښتنی پاچاهی کورنۍ کښی نور هم خورا لوړ واکمن او پاچاهان تیر شوی وو، نو دغه کورنۍ د پښتنو یوه ستره پاچاهی کورنۍ گڼله کېده او په هر عصر کښی به پښتانه پر دوی باندی راغونډ او د دوی

ترا وامرو اووا گمنۍ لاندی به ئې ژوند گاوه ، او خاصه همدا کورنۍ په دوی کښې منلې او دوی به یې فرمان برداری کوله ، لکه چه «بست» دیخوانو پاچاهانو او دبست دورو ستنو پاچاهانو لکه د (صفاریانو) دنسب سلسله هم له همدغې کورنۍ سره کډیدله او دخوارزمی پاچاهانو سلسله هم دهمدغی کورنۍ یوخاښ وه او لوی سهاك معروف په ضحاك ته یې د نسب لړۍ رسیږی .

نو داسلام په اولو وختونو کښې دهمدغو ملاحظاتو په اثر چه پښتانه په اسلام کښې یو قوی او پیاوړی عنصر دی ، داسلام څلورم خلیفه حضرت علی (رض) دپښتنو ددغی کورنۍ یو مشر «ملك شنسب» ته چه په پښتنو کښې دواك خاوند او ددوی لوړ مشرؤ دپاچاهۍ «منشور» ورکړ او ددوی په پاچاهۍ یې ومانه .

داسلام له مرکزمکی معظمی او مدینې منورې څخه اسلام هری خواته خپور شو او دعربو هیوادونه فتح شول او ټول هغه خلك داسلام په مقدس دین وگروهیدل ، دشمال خواته تر روم او دبالقانانو تر سیمو پوری اسلام ورسید او جنوب او غرب خواوی دافریقی شمالی سیمی دنیل له سیمو څخه نیولې دمراکو او جبل الطارق تر حدود پوری دمسلمانانو لاس ته ورغلی ، دشرق خواته دکسرایانو وطنونه فارس ، آزربایجان او افغانستان او دسند سیمی او ماوراءالنهر ټول دعربو او مسلمانانو په تصرف او قبضه کښې راغلل سربیره ددوی پر قبضه او تصرف د دغو ټولو وطنو خلك ټول مسلمانان او داسلام دین او داټول وطنونه داسلام دخلفاؤ له خوا اداره کیدل او دهغو له خوا به عاملان او امیران پکښې مقرروو . چه دهیڅ یو وطن خلکو ته استقلال او پخوانۍ پاچاهی نه وه پاته .

دروم دقیصرانو او دایران دکسرایانو پاچاهۍ له منځه ولاړی دهغو دپاچاهۍ کورنیو افراد هم منحل او حتی نوم او نښان ئې هم ورك شو او ددغو هیوادونو دپاچاهۍ کورنیو اشخاصو ته هیڅ یوه ته کومه موقع ورنکړه شوه چه دخپل هیواد او خپل قوم دپاچاهۍ په کارو کښې لاس ولری .

بالعکس دپښتنو پاچاهی کورنۍ له منځه نه وې تللې ، ددوی پاچاهی کورنۍ او دپاچاهی کورنۍ اشخاص پرخپل حال او خپله پاچاهۍ پاته شول . داسلام د خلفاؤ له خوا د پښتنو پاچاهی کورنۍ مرقره او محترمه وگڼله شوه او ددوی دهیواد پاچاهی او سلطنت بیرته ددوی په لاس ورکړ شو ، چه په دې حساب دپښتنو داخپلواکی حکومت داسلامی خلافت یو غړی گڼل کیده .

فی حد ذاته دپښتنو په تاریخ کښې دغه شی یو خورا ستر امتیاز او زمونږ دپاره دډېر افتخار

وړ مسئله ده چه د اسلام په عصر کښې سره له دې چه د عربو او اسلامي خلفاؤ خورا زيات شوکت اولوړ برم لاره، او پښتنو ته يې داډول امتياز ورکړ، چه په ټولو مسلمانانو کښې يې بل چا ته نه ؤ، ورکړی او د پښتنو پاچاهي او پاچاهان يې خپلواکي پرېښودل !!

د پښتنو له خوا اموي دولت ونړيد ه

او د هغه پرځای يې د عباسيانو دولت جوړ کړ .

ښاغلي العقاد - د پښتنو په تاريخ کښې اول دغه مهم ټکی ته اشاره کړې ده وايي :-

(هغه وخت چه پښتنو له اموي دولت څخه مخه واړو له نو هغه دولت سقوط وکړ او پرځای يې د عباسيانو دولت ودريد .)

د پښتنو او د بنو اميو د دولت په منځ کښې دښمنۍ او کرکې سببونه لرل، چه طبعاً د هغو سببونو د منځ ته راتلو په اثر وشول چه د دوی ترمنځ دښمنی کلکه او دومره زياته شوه چه په پای کښې د دوی ترمنځ د جګړو راتلو واسطه شوه او په نتيجه کښې پښتانه غالبه او بريالی شول او د بنو اميو خوراستر او باشو کته دولت ئې ونړاوه .

اول سبب: له بنو اميو سره د پښتنو د زيات مخالفت لومړنی علت له آل بيت محمد (ص ع) سره د بنو اميو دښمنی او مخالفت ؤ. مونږ وړاندی وويل کله چه پښتانه د اسلام د مقدس دين په فلسفه او کمال وپوهېدل نو په خورا اخلاص او صميميت سره يې د هغه پيروۍ ته ملاوتړله او د زړه له کومې ئې د هغه د اوامرو اطاعت کاوه. او د خپل پيشوا چه د اسلام مقدس دين يې دوی نه راوړی ؤ، د آدابو، خويونو، افعالو او نورو اوامرو او حديثو نو ئې ښه پيروی کوله ځکه چه دوی خپل دنيوی او اخروی سعادت په همدغه کښې باله نو له دغی لاری پښتنو د خپل نبی (ص ع) د آل بيتو او زوزات اکرام او اعزاز هم په خوراتينګه کاوه او د هغوی سره مينه او محبت يې له حضرت رسول الله (ص ع) سره مينه او محبت ګاڼه او د هغوی اعزاز او خوشالی يې اسلامي رکن او يوه اسلامي وظيفه ګڼله. نو پښتنو د آل بيتو مخالفين او دښمنان د رسول او د خدای تعالی دښمنان بلل . او دغو چا سره به دښمنی او بغض کول د خدای تعالی عبادت او ثواب ګاڼه، په دغه کار کښې يې د پاک خدای او د هغه د رسول رضائيت او خوشالی مرموز ګڼل .

نو کله چه د بنو اميو د مشرانو له خوا له آل بيت محمد (ص ع) سره مخالفت او دښمنی شروع شوه او زياتی نادودی به ئې ورسره کولی، او د بنو اميو دا دښمنی دې حد ته ورسيده چه د يزيد له خوا حضرت حسين (رض) او د هغه ملګری په شهادت ورسيدل، له هغه وروسته په هره موقع کښې چه به د بنو اميو د اميرانو وس ورسيدنو د نبی (ص ع) آل بيت به يې ربړول

اوزیات اذیتونه به یی وررسول . په آخر کښی خبره دې حدته ورسیده چه دبنوامیو له خوا ددوی په تولو مربوطاتو اوپه توله اسلامی نړۍ کښی داسی اوامرصادر شول چه په هره منطقه کښی تولو خطیبانوته امرو شو چه دجمعی په ورځ دې دلمانځه دخطبی په وخت کښی پرمنبرباندی دخطبی په منځ کښی درسول الله (ص ع) آل بیتوته ناسزا اوناوړه وایی اوحتی دلعنت کلمات دې دهغو په نسبت استعمالوی دبنوامیو ددغو اوامرو په اثر په توله اسلامی نړۍ کښی ددوی دااوامر عملی شول اوپه هره منطقه کښی د جمعی په ورځو دجامع مسجدونو پرمنبرونو باندی داسی ناجائزه کارونه په زور او جبر اجرا کیدل اودرسول الله آل بیت به دجمعی په ورځو دعبادت په مهال کښی په اسلامی مجامعو کښی به داسی ناوړو الفاظو یادیدل چه انسان بی تصور نشی کولای .

دبنوامیو دغو کارونو دتولو پښتنو په زړو کښی دیر زیات بداو ناوړه تاثیر ونه وکړل . چه دبنوامیو په نسبت دتولو پښتنو په زړونو کښی زیاته کرکه پیدا شوه . په دې اثر پښتنو بنوامیه داسلام درسول اود هغه دآل اوزوزات دښمنان معرفی کړل اودآل بیتو حمایه اوصله ئې پرځانو لازمه او فرض وګڼله اولازمه یی وګڼله چه په هر ترتیب کیږی دبنوامیو له سلطی څخه ځانونه خلاص کړی او ځانونه څه بلکه ټول مسلمانان دهغو له حکومت او سلطی څخه خلاص کړی اولئی لازمه وګڼله چه دخپل نبی (ص ع) اولادې او آل ته دبنوامیو له ظلم او تعدی څخه نجات ورکړی .

له آل بیتو سره دپښتنو ددغی مینی او محبت په اثر او دبنوامیو له مظالمو څخه دکرکې له کبله چه دبنوامیو هغه اوامر چه دجمعې دلمانځه په وختو کښی پرمنبرباندی دآل رسول داولادی دپاره ناوړه او ناسزا الفاظ استعمال شی پښتنو ونه منل اوهیڅ پوپښتانه خطیب پرمیز باندی هغه دبنوامیو مامور په الفاظ استعمال نه کړل ، لکه چه په دی باب کښی مبارک شاه مروروی دپښتنو دغوریانو ددوری مورخ دا موضوع ذکر کړی ده ویلی ئې دی چه په پښتو نخوا کښی دبنوامیو دپاچاهانو دغه ناوړه امرونه عملی نشول اوپه توله اسلامی نړۍ کښی ئې دپښتنو دا امتیاز ستایلی دی چه دپښتنو په وطن کښی دبنوامیو دا له اسلام او اسلامیت څخه مخالف اوامر اجرا نشول ، اوده دپښتون قوم فطری اولوړ حمیت اوددوی دینی غیرت ، پر اسلام ټینګه عقیده او دخپل پاک رسول له اولادی اوزوزات سره رښتیا نړۍ مینه او صادق محبت ستایلی دی ، چه

پښتنو دبنو امیو سلاطینو دې له اسلام او دینی غیرت څخه مخالفو او مبائنو احکامو ته څه اهمیت ورنکړ او دبنوامیو دافرمان یی په خوراشجاعت او په جګه غاړه او په واضحه لهجه رد کړ.

لکه چه په دی باب کښی نوموړی مورخ یوه قصیده هم ویلی ده.

دمبارکشاه مرورودی قصیده:

به اسلام در هیچ منبر نماند — که بروی خطیبی همی خطبه خواند
که بر آل یاسین بلفظ فصیح — نکردند لعنت بوجه صریح
دیار بلندش آران شد مصون — که از دست آن ناکسان بود بیرون
ازین جنسی هرگز درو کس نگفت — نه در آشکارا نه اندر نهفت
نرفت اندرو لعنت خاندان — برین برهمه عالمش فخر دان
همین پادشاهان با دین داد — بدین فخر دارند برهر نژاد

نوموړی مورخ په همدغه اثر دغورد پاچاهانو او پښتنو ستاینه کړی ده او په ټوله اسلامی نړۍ او په ټولو اقوامو یی ددوی فخر او لوړ اسلامی امتیاز ښکاره او ښودلی دی. لکه چه په پای کښی دغورد پاچا (امیر کروړ) او د پښتنو د غرځستان ښه میړه (ابومسلم) معروف په خراسانی په عملی ډول سره میدان ته داخلیږی او دبنوامیو امپراتورۍ ته بیخی سقوط ورکوی او له بیخه یی کاږی.

له بنوامیو سره دپښتنو دمخالفت او کرکی دوهم سبب دبنوامیو ددولت مظالم، او د هغو غرور او زیاته لویی وه. کوم وخت چه بنوامیو داسلام خلافت لاس ته راؤست او دحضرت علی (رض) زوزات او د عباسی کورنۍ او نور زیات او ستر اشخاص یی له منځه وایستل او په عربو کښی هیڅوك ددوی دمقابلی دپاره پاته نشول، چه له دوی سره ئی د سلطنت ادعا کړی وای په عین حال کښی ددوی فتوحات هم داسی درجی ته ورسیدل چه په ټوله نړۍ کښی ددوی د شوکت او عظمت انګازی خپری شوی او په دنیا کښی زیات زورور قومونه ددوی له مقابلی او زور آزمائی څخه عاجزوو. او ددوی دفتوحاتو په اثر داسلام لمن هم زیاته خپره شوه، په داسی اندازه چه ددوی دسر افسرانو دښه تدبیر او ددوی دمبلغینو داسلامی تبلیغ او ښونیکو اخلاقو او ښی رویی په اثر داسی وشول چه زیات خلك داسلام په مقدس دین کښی داخل شول. ددوی دافتوحات په رښتیا سره په دوی پوری منحصر پاته شول ځکه دبنوامیو ددولت له نړیدو څخه وروسته بیا چه عباسیان دهغوی پر

ځای کښېنستل نو عباسیانو څه فتوحات ونکړل خوله بده مرغه ددوی دغو فتوحاتو ددوی په دماغونو کښې یوه مخالفه مفکوره پیدا کړه په داسې توګه چه دا ټول فتوحات او پیش رفتونه دوی پرخپلو شخصیاتو باندی وتپل او داسې عقیده یې ښکاره کړه چه دا فتوحات ټول دبنوامیو دفکر او همت محصول دی، نورو مسلمانانو ته یې په هغو کښې حق نه ورکاوه بلکه ټول یې پرخپلو ځانو ختمول دا یې نه منله چه دا پیش رفتونه اول دا سلام دمقدس دین دحقانیت او دهغه دا کملی فلسفی محصول وو، ځکه چه ډیرو قومونو چه دا سلام دحق دین معقول مرامونه او دهغه دعدالت، مساوات او اجتماع پالنی دستورونه وارویدل نو یه خپله خوښه دا سلام په دین وګروهیدل او په اسلامی جامعه کښې یې ځانونه داخل کړل دوهم دا فتوحات دټولو مسلمانانو دهمت او نوری محصول وو، داسې نه چه یوا ځی یوا ځی دبنوامیو په توره پوری مربوط وو. نو دبنوامیو ددغه اختصاص او نژاد پرستۍ کار ټول مسلمانان تپرا کړل په تیره پښتانه چه ددوی توره او شجاعت په ټولو مسلمانانو کښې یو ښکاره او څرګند امرؤ سربیره پردغه بنوامیو داسې مظالم او استبدادونه غوره کړی وو چه هیڅوک د دوی له مظالمو څخه آرام نه وو، او نه دوی دا سلام عدالت پسندۍ ته سر ټیټاوه.

دپورتنیو دوو سببونو له امله دپښتنو او دبنوامیو دحکومت په منځ کښې دښمنی او مخالفت پیدا شو، او دا مخالفت او دښمنی وخت په وخت ډیر بدله، په پای کښې دې حد ته ورسیده چه دبنوامیو دمشرانو او سر افسرانو له خوا ددوی دحکومت په دوره کښې د پښتنو ډیر ښاغلی ووژل شول.

دپښتنو او دبنوامیو ترمنځ ددغی دښمنۍ او مخالفت انګازه په ټولو مسلمانانو کښې خپره شوه په تیره په عربی نړۍ کښې دغه دپښتنو مخالفت په خورا دقت سره مراقبت کیدله او په عربو کښې ئې ښورښ پیدا کړی ؤ، ځکه چه په عربی وطنو کښې دحضرت علی (رض) اولاده او بنوعباس دبنوامیو له خوا هروخت ترتهدید لاندی وه، او زیات ربړونه ور باندی کیدل. نو له همدغه امله ساداتو او آل بیتو دافغانستان او پښتنو دهیوادخوا ته مخه را کړی وه او دلته ئې دپښتنو مینی ته پناه را وړله له دغه امله په عربو کښې پښتانه په (شیعه) یعنی دآل رسول (ص ع) په هوا خواهانو او طرفدارانو مشهور شوی وو، لکه چه همداسی وو چه له پښتنو سره دارتباط په اثر ځینی عباسیان او اولاد علی (رض) لکه امام ابراهیم عباسی او نور دبنوامیو له خوا ووژل شول پښتنو هم دبنوامیو په مقابل کښې دآل بیتو دهواخواهۍ آواز پورته کړی ؤ دا به یې ویل چه دا سلام خلافت دآل بیت نبی (ص ع) حق دی، له دغه امله ساداتو او عباسیانو له پښتنو سره زیاته مینه پیدا کړه او پښتانه یې دځانو طرفداران او حامیان بلل له بنوامیو څخه دخپلو ځانونو خلاصیدل او نجات یې یوا ځی یوا ځی په پښتنو

پورې مربوط ګڼه او پښتنو ته ئې ځانونه وسپارل پښتنو هم ذوی ته لاسونه ورګرل د رسول الله (ص ع) له زوزات سره رښتیانی مینه او محبت بی دنیا ته ښکاره کړ چه په یای کښی بی ددوی دښمنان (بنوامیه) له منځه لیری کړل او سربیره پرهغه ئې دهغو مقام او اسلامی خلافت هم ددوی په لاس ورکړ او دوی ئې د اسلام د خلافت پرمسند کښیښنول وروسته له هغه نو ثابته شوه چه په رښتیا سره پښتنو له آل بیتو سره حقیقی او رښتیانی محبت لاره او په حقه سره ئی دهغوی حمایه و کړه او په توله نړۍ کښی د آل بیتو په هوا خواهانو مشهور شول ، لکه چه تر اوسه پوری هم په تولو پښتنو کښی داحس شته چه له ساداتو او رسول (ص) له زوزات سره ښه محبت لری او په خورا اعزاز او په درنه ستر که ورته ګوری .

دغه دساداتو او آل بیتو مینه او هوا خواهی په تولو افغانانو کښی پورته ګه او په اعتدالی توګه وه چه افراط او تفریط یا کښی نه وو ، او زمونږ د (هزاریو) تبر چه دوی هم دغور له قبائلو څخه دی او په هغه وخت کښی چه امیر کروړ او ابومسلم غرجستانی د آل بیتو د هوا خواهی آواز پورته کړ ، او د بنوامیو د امپراطوری نړېدو ته ئی عزم و کړ تول پښتانه ور سره مله وو چه په هغو کښی هزاره هم وو ، او آل بیتو ته په خدمت او د بنوامیو په ورکولو کښی د هزارهٔ تبر هم ستره برخه اخیستی ده . او د نورو پښتنو په لړ کښی دوی هم په دغه فتح او اسلامی مفخره کښی سهیم دی . خو کوم وخت چه اسماعیلیه فرقه پیدا شوه او نوی شیان یی منځ ته راوړل او دغی دلی زمونږ په هیواد کښی نفا نستان کښی زمونږ له هزاری تبر سره تماس پیدا کړ ، نو د دوی په هغه مینی او علاقه کښی چه د نورو پښتنو غوندی یی له آل بیتو سره درلوده تغیر راغی او د دوی په مسلك کښی یی هم تغیر راووست . نو د «شیعه» نوم چه د علی (رض) د طرفدارانو او هواخواهانو دپاره استعمالیده ، او چه پښتانه هم د آل بیتو هواخواهان وو ، نو مورخینو د دوی دپاره استعمال او په کتابو کښی لیکلی دی ، او س په افغانستان کښی یوالحی د هزارهٔ د تبر دپاره خاص او استعالیږی . (۱)

پښتانه وایی : (توری بابا تور وهی بایی له غمه سوروهی) کله چه د بنوامیو د امظالم او د اسلام د نبی پرزوزات باندی د دوی تجاوزونه او ربړونه ، پښتنو و نشول زغملای ، نو مجبور شول چه سره راتول او توری ته لاس کړی هغه ؤ چه د پښتنو د غرجستان (او سنی

---

(۱) زمونږ په وطن کښی دا شهرت چه هزاره یو مغولی تبر او مغولی نژاد دی ، داسی غلط شهرت دی لکه چه ځینو خلکو پښتانه بنی اسرائیل بللی دی ، او حقیقت داسی دی چه هزاری له هغو غلورو غوری تبر و نو هغه چه په (چار ایماغ غوری) باندی پادشوی دی یو ایماغ (تبر) دی . او د مغولی چنګیز د هجوم په عصر کښی د دوی ځینی داتك دسیندسیمو ته ولاړل چه اوس هم هلته په هزار و یاد یږی .

او د دې موضوع مفصله خیړنه او بیان به انشاءالله ښاغلو اوستونکو ته عرض او وړاندی کړو د ثابت .

میمنی) مشرابو مسلم خراسانی او دغـور باچا «امیر کرور» دبنو امیو ددولت د سقوط اوبیخی له منځه ایستلو دپاره پښتانه چمتو کړل ، اول بی‌په‌ا فغانستان کښی دبنو امیو امیران عسکر اوددوی نور هواخواهان له منځه لری کړل اوپه افغانستان کښی ئې دهغوي حکومت ته‌خاتمه ورکړه . اوداکار یوالحی دافغانستان په خلاصیدو هم‌نه فیصله کیده ، ځـکه دهغو له مظالمو څخه دمسلمانانو نجات اوپه تېره‌درسول داولادی نجات اوژغورني داغوښتل چه دبنوامیو خلافت اوسلطی‌نه بایدخاتمه‌ورکړه شی‌اوتوله‌اسلامی نړۍ دهغو له سلطی اوواك څخه خلاصه شی . توله همدغه امله د پښتنو مشرا بو مسلم او دغو پښتنو لښکرو دافغانستان دخاوری له نجات څخه وروسته دایران خوا نه مخه کړه دایران خاوره یی هم له هغو څخه پاکه کړه .

په ایران کښي دګرګان اموی حاکم ابن حنظله چه خپلی لښکری‌یی د پښتنو مخی ته راوا یستی له زیاتو خونړیو جګړو څخه وروسته پښتنی لښکری غالبه شوی اودابن حنظله اموی لښکرودجګړی په دګر کښی لس زره‌مړی پرېښودل، ښاراومیدان‌ئی‌خوشی کړل . دابومسلم لښکروښارونیوه‌اوله‌هغه وروسته‌یی دایران‌اوعراق عجم‌وطنونه‌تول‌فتح کړل ، اوداموبو مدافع سر افسران‌داؤداوعامر، چه له پښتنوسره‌ئی کلکی مقابلی کولی په پای کښی عامرو وژل شو اوداؤ دوتښتید . دابو مسلم لښکرو دفارس‌دهیواد له نیو لو څخه وروسته په دغه هیواد کښی خپل نائب‌الحکومه ګان مقرر کړل بیایی نود عراق عرب پرخوا خپلو لښکروته دمارش امر و رکړ . په دې وخت کښی یزید نو می اموی مشر اوسرافسر دپښتنو دلښکرو مخی ته‌په زیات زور راغی ، خوله خونړیو جګړو څخه وروسته دهغه لښکرهم ماتی وکړه ، اویزید پخپله کوفی‌ته وتښتید . دابومسلم لښکرو دده تعقیب وکړ کوفی ته وریسی ورغلې ، دکوفی اموی‌نائب الحکومه ابن هبیره ته ئې ماتې‌ورکړه هغه هم وتښتید اود کوفی ښار دپښتنو په لاس کښی‌ولوید - نوپه دی ترتیب سره په۱۳۲ کال دمحرم په میاشت کښی نومړی‌ابومسلم (دپښتنو دفتح اوبریالیتوب اعلان دنیا ته ورکړ، وی‌ویل دادی اوس مو نیز داموی دولت خلع کیدل دنیاته اعلان کړل نورنو په‌دنیا کښي دهغوی‌دولت نشته) .

په دې مهال کښی چه ابومسلم نورخان کامیاب وباله نوئی اول د حضرت علی کرم‌الله وجهه داولادی غټان‌را وغوښتل او داسلام دخلافت مسئله ئې ورته وړاندی کړه . خو هغو دابومسلم داخبره ونه منله داسلامی خلافت له قیادت او مشر تیاڅخه یی منعه راوړه. نوددوی په خوښه پښتانه‌ابومسلم دعباسیانو دتبر څخه عبدالله سفاح نومی‌یو شخص

چه په هغه عصر کښې داموی امراؤ دتعقیب اوپلټنې له امله په کوفه کښې په یو کور کښې پټ ؤ ، راو ایست اونوموړی عبدالله په هغه وخت کښې دعباسیانو په کورنۍ کښې دلیاقت اوپوهې خاوند سړی ؤ نو یې دی د خلافت پرمسند کښېناوه او اسلامی خلافت یې دده به نامه اعلان کړ .

داوو ، چه په ۱۳۲ ق ه کال پښتانه او دهغو مشرابو مسلم په خپل مقصد کامیاب اوبریالی شو ، . چه هغه له دې څخه عبارت ؤ چه دبنوامیو دیوې پیړۍ خوراستری امپراتورۍ ته چه دعظمت او اقتدار هنګامی یې به ټوله دنیا کښې خپری وی سقوط ورکړی او بیخی ئې له بیخه وکاږی او دهغوی له سلطی او استبداد څخه ټول مسلمانان په تېره علویان اوعباسیان چه هر کله به داموی دولت دمشرانو له خوا ډېرزیات ربړېدل خلاص کاندی . ـ ددغه نوی عباسی دولت په دربار کښې ابومسلم یوتن چه ابوسلمه جعفر نومید له خپلې خوا وزیر وتا که د نوموړی وزیر له مړینې څخه وروسته یې بیا د هغه په عوض یوبل پوه سړی چه دافغانستان دبلخ ؤ . اوخالد برمکی بلخی نومیدوزیروتا که چه ددغه دولت ټولی سیاسی او اداری چاری ددغه وزیر له خوا اجرا کیدلی او ، دغو وزیرانو په عباسی دربار کښې دومره حیثیت درلود چه بې دابومسلم له مشوری څخه خلیفه نشوای موقوف کولای .

پخپله ابومسلم بیرته خپل هیواد ته راغی او دیوسترمقتدرشاهنشاه په حیث په افغانستان کښې اوسیده ، اودماوراء الهزوطنونه یې هم دعربی حکامو له سلطی څخه خلاص کړل خپل حکام ئې پکښې مقرر کړل ، اودفارس په هیوادباندی یې هم حکمرانی لرله . اوسره له هغه پښتانه ابومسلم دعباسیانو نوی دولت دخپلو وزیرانو په واسطه تر خپلې نګرانۍ او کنترول لاندی ساته .

داوو دښاغلی العقاد داجمال تفصیل چه دپښتنو له خوادبنوامیو دامپراتورۍ د نړیدو اودهغه په عوض دعباسیانو ددولت دقائمولو په باب کښې ئې لیکلی وو .

ښاغلی عبدالهادی (خلیلزی)

له عربی دارالعلوم څخه

وو ده وم

په غوږ می د مظلو مواه ازار و لګید ه

ناڅاپه می په زړه د غم ګذار و لګید ه

راو یښ می وو ده زړه شو د خوبانو له جفا نه ساقی را ته وهلو ستر ګکو نه هم له ورانه

اواز د مطرب غلی غلی هم را ته بید یا نه نری نری ژړا د یتیم وه له بلی خوانه

یو تندر اسمانی و چه په ماخوار برابر شو

په ځان باندی یوه نه شوم نه بل څوك په ما خبر شو

راو یښ چه شوم له خو به جوړ محشر ؤ په دنیا کښی مظلوم، یتیم، بی وزله، خاك په سر ؤ په دنیا کښی

د عدل، او انصاف، راغونډ تغر ؤ په دنیا کښی الفت، او عطوفت، مخ په سفر ؤ په دنیا کښی

خو سر تر پایه ظلم ؤ د عدل مفهوم نه ؤ

حقوق د بشر محوه وو هیڅ چا ته معلوم نه ؤ

سو دا می شو له ډیره ما ویل کوم پوښتنه چه دا څه شور غوغا ده پیدا شوی ده له څه نه

یو چا را ته و یلی مه کوه د دی لټنه سودا به دی شي ډیره څه کوی د چا غمو نه

ظلمو نه رو یکار دی عدالت نشته دنیا کښی

هر چا ترقی کړی ده په ظلم ؤ په جفا کښی

ما دا خبره واورید له بیر ته را روان شوم خالق ځما شاهد دی چه بی حده بری ستومان شوم

سودا می شو له ډیره آینده ژوند ته حیران شوم ژړل به می له غمه چه اخر سر په بیابان شوم

هلته هاطف غږ و کړو چه مه ژاړه قیامت به شي

ورك به ظلم وزور شی مساوات او عدالت به شي

سر می کړو راپورته نه هاطف ؤ نه اواز چیری نه د مطرب غږ ؤ نه می اورید لو ساز چیری

یا تی یا الکل نه ؤ د ظالم سره اعزاز چیری نه په مخ د خدای نه په عالم کښی شو ممتاز چیری

وای، خلیلزی، مظلومه مه ژاړه خندا به شی

قول د خالق دی نن صبا دی چه رښتیا به شی

او که بالفرض په دغو وزرونو کښې یوه تېره توره پټه وی او دهغې په تېره څو که تاسې ژوبل هم شیء! نو تاسې دتورې ددغې تېرې څو کې پروا مه کوی ء! او مه دخپل ځان ژوبلېد لوته کوم اهمیت ورکړی ء. که مینه تاسی سره خبرې کوی نو تاسی دهغی په ټولو خبرو یقین کوی ء!

که څه هم ددغو خبرو آواز ستاسې ټول خواهشات او خوا ږه خو بونه له تاسې څخه خپاره او منتشر هم کړی. داسې لکه څنګه چه دشمالی خواباد سمسوری باغچې ورانوی.

او دا خبره هم یاده ولری ء چه که مینه تاسې ته له یوې خوا تاج درپه سر وی له بلی خوا تاسې په دار او سولی هم ور خېژ وی. او لکه څنګه چه مینه ستاسې دروحونو باغونه سمسوروی، په همدغه ډول مینه وخت په وخت او موقع په موقع له دغو باغونو څخه ډېرې کاره وا ښه هم پوچی (للون) کوی،

هر کله چه دغه مینه ستاسې دژوندانه دونې څو کې ته ددې له پاره خیژی چه هغه ښاخونه او څانګې ښکل کړی چه ددغې ونې په څو که کښې ئې دلمر دوړانګو په رڼا کښې دزمانې بادونه یوې خوا او بلې خوا ته ښوروی.

نو په همدغه وخت کښې دغه مینه ددغې ونې بیخ ته هم دې دپاره ور کښته کېږی چه هغه ریښې چه دځمکې په سینه پورې دکوچنیو بچو په څېر نښتی دې وخوځوی او هغو ته یو ټکان ور کړی.

که څه هم مینه تاسی خپل ځان ته داسی رانغاړی لکه څنګه چه ونی او بوټی خپل ګلان او دانې او نورشیان خپل ځان ته رانغاړی او ستاسی روزنه او پالنه کوی.

لیکن په مناسب وخت کښې هم دغه مینه تاسی له خپل ځان څخه ددې له پاره بېلوی چه تاسی لکه دونو او بوټو د محصول په څیرو څنډلی شیء او په دې وسیله دیوی محدودې دائری نه دځمکی په مخ خپاره شیء

او دادی دپاره چه تاسی له ځینو بیکارو موادو څخه پاك او صاف شیء

له دینه وروسته دغه مینه تاسی اوړه (میده) کوی او داددې دپاره چه ستاسی حقیقی او پټ مغز دباندی راووزی.

له دینه وروسته ستاسی دغه مغز اغېزی، او داددې له پاره چه ستاسی په وجود کښې سلیښ شیمه او پوسټ والی پیدا شی.

دینه وروسته بیا دغه اغېزل شوی مغز خپل مقدس اورته ددی دپاره سپاری چه تاسی داجتماعی ژوند په مبارك دستر خوان ځای ونیولی شیء او دیوې خوږی او مقدسی ډوډۍ مقام اشغال کړیء.

داټول کارونه په تاسې باندې مینه ددی دپاره کوی چه تاسی دخپل خلقت او دخپلو زړو نو په راز پوه شیء!

او هر کله چه تاسی به دغه راز پوه شیء، نو تاسی به دژوندانه په زړه کښې ځای پیدا کړیء او تاسې به دژوندیو جزء وګڼلی شیء.

لیکن که تاسی له دغو مشکلاتو څخه وبیریدلاست، او تاسی په دی فکر عقیده پیدا کړه چه د مینې یوا ځینی محصول عیش او عشرت دی، نو په دی صورت کښې باید تاسی دمعقولی مینی له حلقې او احاطی څخه ځان دباندی وباسیء! تاسی په دی صورت کښی دمینی له حلقی او احاطی څخه ځانونه وباسیء! او کومی داسی نړۍ ته ولاړ شیء چه په هغی نړۍ کښې دموسمونو نوم هم

نه وی، او نه یه هغه نړۍ کښې کوم نور (رڼا) او یا کوم ذوق او نه کوم د ذوق خاوند موجود وی .

یه دغه ډول نړۍ کښې به هم تاسی خندا کوئ .

مګر ستاسې دغه خندا به کوم دوام ونه کړی .

ستاسی دغه خندا ګانی به نیمګړی یا ته شی او نتیجه به ئی و بر و نه اوژړا ګانی وی .

تاسی به یه دغه نړۍ کښې وبرونه اوژړا ګانی کړئ ! مګر دغه ژړا به هم نیمګړې ژړا وی او دا لکه چه یه دغه نړۍ کښې به نه تاسی یه واز کومی ژړلی شئ او نه به د خپلو تأثراتو د تقاضا سره سمی به آزادانه ډول خپلی اوښکی تو یولی شئ .

مینه تاسی ته هیڅ نشی در کولی پر ته د خپل ...!

مینه تاسې څخه هیڅ نشی اخیستلی پر ته د خپل ...!

پر ته د خپل هغه لطیف جوهر څخه چه هغه د دې خپل شی دی !!

مینه نه پر چا قبضه کولی شی، او نه پر مینه څوك قبضه کولی شی، او دا لکه چه مینه یه خپله یه خپل حقیقت کښې د خپل ځان دپاره پوره او کافی شی دی .

هر کله چه تاسی د چا سره مینه لرئ نو تاسی دا مه وایئ: چه دغه زما یه زړه کښې دی، بلکه دا وو ایئ چه زه دهغه یه زړه کښې یم او تاسې هیڅکله یه دی فکر او عقیده مه اوسی چه مونږ مینې ته لارښود نه کو و .

بلکه مینه تاسې ته لارښود نه کوی، لیکن یه دی شرط چه تاسی د حقیقی مینې یه پیدا کولو کامیاب شئ او خپل زړونه د دې خبری قابل کړئ چه حقیقی مینه یه هغو کښې ځای ونیسی .

نو که یه دی صورت کښې تاسی مینه کوئ ! او غواړئ چه د دې مینې یه اثر

زمونږ هیلی او آرزو گانی تر سره شی ! نو تاسی ځانونه اوبه کړیء ! دیوی بهیدونکی چینی په څېرچه دخپلو بهیدو په ترڅ کښې دشپی په تورو تیارو کښې نړی ته خپلی نغمې اوروی.

د ینه وروسته په هغو دردونو هم ځانونه پوه کړیء چه په دغه چینه کښې ئې دبهیدلو اوبدلو ذوق پیدا کړی دی.

که دمینی په خصوص کښې تاسی ته څه معلومات حاصل شی ؟ نو تاسی په هغو ځانونه ژوبل کړیء.

اوپه دغو زخمونو به خوشحالی وکړیء. تاسې به په دغو زخمونو او تکلیفونو مست شیء! او په هغو وینو به چه دمینې له دغو زخمونو څخه بهیږی افتخارو کړیء.

دسهار په وخت کښې تاسی دخوب نه دمرغانو په څیرراویښیږیء! یعنی به دی ډول چه ستاسی زړونه الوتلو ته تیار او آماده وی، او په دی خبره شکر کویء چه پاك خدای تاسی ته دمینی یوه بله ورځ درنصیب کړه !

دغرمی په وخت یعنی په هغه وخت کښې چه تاسی د کارونو څخه ستړی ستومانه راشیء! او دمه کویء! نو داستراحت په دې وخت کښې هم دمینی او محبت کیف ډیر خوندور او خوږوی او په دغه وخت کښې هم تاسی له دغه کیف څخه خونداخلیء! ماښام چه ستړی ستومانه خپلو کورونه راشیء! نو په دغه وخت کښې هم تاسی دمینی داحسان ممنون اوسیء! او دشپی په داسی حال کښې بیده کیږیء چه ستاسی زړونه خپلی محبوبی نه یه دعا کولو بوخت او مصروف وی، او ستاسی په شونډو دخپلی محبوبی دمدحی او ثنا رقاصه رقص اونڅا کوی.

-۳-

بیاعارفی وویل :

زما اغا! دمیړو ښۍ (منا کحت) په خصوص کښې ته څه فکرلرې ؟

هغه ورته په جواب کښې وویل :

تاسی نراوښځی سره یوځای پیدا شوی یاست! او تل به یوځای ژوندون کوی ء.

په کوم وخت کښی چه دمرګ فرشته خپل وزرونه خپاره کړی او د خپلو وزرونو په حرکت ستاسی د ژوند اېری په هوا کښې والوزوی

په دغه وخت کښې به هم تاسی یوځای اوسیږی ء ! دالاڅه چه د کائناتو دخدای په یاد کښی به هم تاسی سره یوځای اوسیږی ء .

مګر باید ستاسی په دی مسلسل اتصال کښی څه قدر ته فصل او بیلوالی هم وی.

دادې دپاره چه په دغه خلا او فاصله کښې د اسمان آزاده هوا نڅاو کړای شی.

تاسی دواړه یوله بل سره مینه کوی ء، مګر دخپل جنسی محبته څخه یو دبل له پاره ځنځیرونه مه جوړوی ء.

بلکه تاسی دواړه دخپلی مینی څخه یو متحرك سمندر جوړ کړی ء چه دغه سمندر ستاسو دواړو دروحونو په منځ کښې داسی څپی ووهی لکه څنګه چه سمندر دخپلو دووغاړو او ساحلونو په منځ کښې څپې وهی .

تاسی دیو بل دپاره پیالی ډکوی ء امګر دواړه دیوی پیالی څخه او به مه څکی ء!

او دیوی پیالی څخه خپلی تندې مه ماتوی ء !

تاسی خپله نمړۍ (لقمه) یو بل ته سره ور کوی ء! مګر دیوې ډوډۍ څخه نه بلکه دهغی جلاجلا ډوډۍ څخه چه تاسې په خپله ګټلی او پیدا کړې وی .

تاسی دیوبل غاړه کښې لاسونه اچوی، نخا کوی، عیشونه کوی او بدلی وایی.

لیکن سره ددې ترلو خبرو دیوبل څخه آزاد هم اوسی! په دی ډول لکه څنګه چه دیوه (رباب) دوه تارونه په یوړخت کښې دیو راګ څخه لړزیږی لیکن دیووبل څخه جلا اوسی.

خپل زړونه وبخښی مګر یو بل ته نه.

دالحکه هغه دقدرت لاس چه تاسی ته ئې ژوند بدر کړی دی، ستاسی په زړونو دقبضې حق لری. دژوندانه په تودو سړو کښې یوبل سره اوزه په اوزه دریږی!

مګر بالکل سره یو کیږی مه!

تاسی لکه دمسجد دستنو په څیر دچت دوزن اوثقل په یورته کولو کښې دیوبل سره مرسته کوی! لیکن دیوبل څخه جلا دریږی!

یالکه دشاه بلوط اوصنوبر په څیر چه په یو باغ او بوه ځمکه کښې پیدا کیږی اوپه یوه ځمکه او بوه هوا کښې وده کوی. مګر دیو بل په سیوری کښې وده نشی کولی.

-٤-

بیا یوی ښځی چه په غیږ کښې ئې بچی نیولی ؤ و ویل:

«مونږ ته د کوچنیانو په خصوص کښې څه ووایه!»

هغه ورته وویل:

ستاسی دا بچی په حقیقت کښې ستاسی بچی نه دی. بلکه دوی په حقیقت کښې دحیات دقوت او دآفرینش دجذبی اولادونه ی.

دوی دهغه ژوندون اولادونه دی، چه دغه ژوندون فطرت په خپله دخپلی ودی او نمو دپاره نا کراره دی.

که څه هم دوی ستاسی په واسطه دې نړۍ ته راليږلی شوی دی، مګر دوی ستاسی ملکيت نه دی، تاسی دوی سره مينه کوی ء، او څومره چه مو دلاسه کيږی دوی سره مينه کوی ء، مګر دويته تاسی خپل تخيل مه ور کوی ء او مه دويته خپل افکار ور حواله کوی ء دا ځکه چه دوی ستاسی تخيل ته ضرورت نه لری، او دوی د خپلو ځانو سره ډير زيات نوی تخيلات راوړی دی.

تاسی په خپلو خونو او کورو کښې دوی هوسا ساتی! ليکن د دوی معصوم روحونه آزاد پريږدی ء.

دا ځکه چه د دوی روحونه به په هغو کورونو او خونو کښې استوګنه کوی چه د هغو نوم سبا (فردا) دی،

هغه کورونه د دې ماضی « نن » څخه ډير لوی دی چه تاسی په کښی ژوند کوی ء

تاسی هغو کورونو ته نشی ء ورتلی! بلکه تاسی د هغو کورونو خيال او تصور هم نشی ء کولای. تاسی د دی خبری کوښښ کوی ء چه په دوی پسی قدم په قدم روان شی ء! او دا ځکه چه ژوند بيرته نه راګرزی او نه (نن) د تير شوی (پرون) سره دريدلی شی! ستاسی تولو مثال د هغو ليندو په څير دی چه غشی ور څخه د بچو په شکل جلا کيږی او په هوا کښې خپله لار پيدا کوی.

د دی غشو د ويشتلو او هدف يو قوی تير انداز او غشی ويشتونکی ننداره کوی چه د غه غشی ويشتونکی په خپل بوره طاقت د غه ليندی راکاږی او دادی د پاره چه د غه غشی ډير تيز او ليری ولاړ شی د غه غشی ويشتونکی تل خپل غشی د مستقبل د فضا خوا ته ګوزاروی. نو تاسی د دې غشی ويشتونکی په لاس کښی په خپله خوښه ټيټ شی ء.

دا ځکه لکه څنګه چه د غه غشی ويشتونکی د غشو سره مينه لری هم د غه راز

دهغو ایندر څخه هم ډیر خوشحاله دی چه هغه قوی او ډیری مضبوطی وی .

- ٥ -

بیا ددغه ښاریو بدای وویل :

«مونږ ته هم دور کړی را کړی او د خلکو سره دمعاملی په خصوص کښې څه ووایه !!»

هغه ورته وویل :

هر کله چه تاسی خیلی لحمکی اوشته ویشیء !

نو دا کوم لوی کار نه دی ؟

هو! که تاسی خپل لحانونه او خپل نفس وویشیء! نو ستاسی دا کار به حقیقتاً ډیر لوی کار وی او دغه کار واقعی داد او بخشش دی .

ستاسی مقبوضات او ملکیت عبارت له څه شی څخه دی؟

پر ته له هغو شیانو چه تاسی ټول عمر هغه ساتلی او دهغو حفاظت او ساتنه مو کړی ده، او داله دی ویری چه چیرته دغه ستاسی راټول کړی شیان ضایع او بی لحایه نشی او سبا ورځ ستاسی په ښه راشی، او سبا ...؟

دخپل نفس ډیر حرصناك سپی دپاره. یوه تحفه محفوظه او تیاره وساتی، او دضرورت په وخت کښې ئې دهغه حضورته وړاندی کړیء دهغه سپی په څیر چه په یوه نشه توره میره کښې په ډیر احتیاط یو څوهډو کی ښخ کړی وی، او بخپله په قافله پسی روان وی. له احتیاج څخه دومره ویره څه په کار ده ؟

که انسان به دی موضوع کښې څه قدر لحیر شی نو دغه داحتیاج څخه ویره به خپله احتیاج دی. دتندی ویره. په داسی وخت کښې چه ستا په کور کښې دننه کوهی له او بو ډك وی - به خپله به حقیقت کښې یوه نه ماتیدونکی تنده ده .

ځینې داراز بډایان دی چه د خپلو ډېرو مقبوضاتو څخه لږو ډېر نورو خلکو ته هم ور کوی .

او دوی دا کار بوازی او فقط ددې له پاره کوی چه دامتیاز او نوم خاوندان شی .

ددوی دزړونو دغه پټ خواهشات ددوی دغه نحفی خوسا او بی کاره کوی .

ځینی داراز بډایان هم شته چه دهغوی مقبوضات نسبتاً ډېر کم وی او هغه ټول نورو خلکو ته ور کوی او ځینی داراز دی چه هغوی په دنیا او ددنیا په نعمتونو ایمان راوړی وی او ددې راز خلکو ځولۍ هیڅکله نه تشیږی .

ځینی داراز بډایان دی چه خلکو ته ور کړه کوی او په دی ور کړو خوشالیږی او ددوی دغه خوشالی په حقیقت کښی ددوی دفیاضۍ انعام دی او ځینی دا ډول دی چه خلکو ته ور کړه کوی لکن په خپلو دغو ور کړو بسی خپه کیږی چه ددوی دغه خپګان په حقیقت کښې ددوی ددغه ریا کارانه عمل سزا ده .

او ځینی داسې دی چه بخښنی کوی او د بخښنی نه وروسته هغوی ته هیڅ قسم تأثر نه ور پیدا کیږی او نه په خپل دغه کار خوشحالیږی .

دوی دعقل او سنجش نه وروسته دغه کار کوی او ددوی دا عقیده وی چه دنیا دښیګڼی او ثواب ځای دی. او نیك عمل دنیکو خلکو برخه او حصه ده .

ددوی دور کړو مثال داسی دی لکه څنګه چه د(اکاسی) یوه ونه په یوه میره کښې دلارې په سرولاړه وی، او په ډېره بې پروایۍ سره خپلی خوشبو یه وږمی په دواړه لاسه په فضاء کښې شیندی .

ددی ډول بډایانو لاسونه دپاك خدای مرحمت سره لوبې کوی، او پاك خدای ددوی په ستر ګو خپل مخلوقاتو ته ګوری او خوشحالی کوی .

که څه هم فقیرانو او سوال ګروته شی ور کول ښه کار دی

مګر ډېرښه او غوره کاردا دی چه بې له غوښتنی څخه په عقل او سنجش بې وزلو ته کوم شی ورکړ شی .

پاك خدای له دې نه چه چاته څه شی ورکړ شی په دې ډېر خوشحا لیږی چه انسان په مستحق پسې وګرزی او مستحق سره مرسته وکړه شی .

نو هغه شی چه تاسی ئی دسپما په ډول ساتیء، هغه څه شی دی ؟

نو هغه شی چه تاسی ئې لریء هغه به ټول یوه ورځ برخې برخې شی او په خلکو به وو یشلی شی .

نو نن ئې په خپلو لاسو نو ورکړیء .

دا ځکه چه په دی صورت کښې به په ځای د دې چه ستاسې وارثان دورکړو خوند واخلی تاسی به ئې په خپله خوند واخلیء .

تاسې اکثر داعذر کویء چه زه به خپل مالونه ورکړم مګر مستحق ته خوستاسې دباغونو ونی اوستاسې دور شو ګانو څاروی داخیال او فکر نه لری دوی خپل هر څه اوځانو نه دې دپاره ورکوی - چه ددوی دغه کار ددوی دژوندون ضامن دی .

که دوی دغه کارونه کړی نودوی به فناشی .

په دې خبره کښې شك نشته چه کوم شیان په شپه اوورځ کښی برخه لری هغوی هم ددې مستحق دی چه له تاسې څخه ګټه اوبرخه واخلی . اوهر څوك داحق لری چه دژوندانه له سمندر څخه خپله تنده ماته کړی، هغوی دا حق هم لری چه ستاسې له دې کوچنۍ چینی څخه خپله تنده ماته کاندی او خپله پیاله ډکه کړی ،

تاسې کوم حقیقت اوحیثیت لرىء!

چه خلك تاسې ته راځى او دخپل خپل عزت النفس څخه ستاسې په مخ کښې پردې پورته کوى. اوداددې له پاره چه تاسو ته دهغوى استحکام ښکاره اودهغوى خوداري په خپلو ستر ګوو ګورىء!

اول خو تاسې دى خبرې ته ځير شىء!

چه تاسې په خپله دهغه عزت مستحق شوى یاست چه د نورو حاجتو نه په تاسې ترسره کیږى؟!

حقیقت دادى چه دژوندانه ټولى چینى یوه بلې ته اوبه ور کوى.

یو ژوند دبل ژوند سره مرسته کوى.

یو روح بل روح سره، او یوفطرت دبل فطرت سره. او تاسې چه خپل ځانو نه ډیرپوه اوهوښیار کڼىء تاسى په حقیقت کښى دژوندانه دور کړو راکړواو معاملو ناظران اونندار چیان یاست.

اى شتمنو بډایانو! تاسې هم شتمن یاست او سائلان هم. تاسى د تشکر هغه د روند بار په خپلو اوږومه اخلىء چه هغه سباستاسى او د اخیستونکو په څټونو پورې د یوې بد شکلى سپېږى په څیر نښتى وى.

تاسې دخپل هغه ور کړونکى (خداى) دنیت په څیر خپل همتونه داسې لوړ کړىء لکه څنګه چه یو کمزورى او رنځور انسان دیوقوى اوروغ سړى په اوږو لاسونه ږدى اودهغه په مرسته پورته کیږى اوداځکه چه که تاسى خپل همت لوړ نه کړىء!

وګو یا تاسې دخپل مهربانه خداى په فیاضۍ کښى شك لرى، اوداڅو مره بده خبره ده چه تاسې ته پاك خداى بې سواله اوبې غوښتنى در کړى دى او تاسې ئې په سوال او غوښتلو چاته ورنه کړى؟!

-۱-

بیا بوه زاړه بټګر وویل:

«مونږ ته هم دخوراك اوڅکاك په شا او اخوا کښې یو څو خبری وکړه!»

هغه ورته وویل:

څومره به ښه وای چه که تاسې هم بې دخوړلو څکلو څخه یو اځې د ځمکې په بویولو داسې ژوندون کولای شوای!

لکه څنګه چه ونه دلمر درنها په جذبولو ژوند کوی. لیکن که ستاسې فطرت تاسې دې کار ته اړ کوی چه دنورو دوینو په څکلو او دنورو دغوښو په غذا ژوندون وکړیء.

که تاسې دې کار ته اړ یاست چه خپله تنده په دې ماته کړیء چه د لنګو څارووشو دې وڅکیء، او دهغو کوچنی اولادونه وږی پرېږدیء.

نو په دی صورت کښې تاسې دارازیو کارو کړیء چه د دغه کار په اثر ستاسې دغه کار په عبادت کښې داخل شی.

ستاسې له دسترخان څخه یو قربانګاه جوړه شی، چه په دغه دسترخان دځنګله او صحرا معصوم او پاك مرغان ستاسې دپاکو وجودونو نمړی شی. نو په کوم وخت کښې چه تاسې دیو حیوان په غاړه چاړه ږدیء، نو په دغه وخت کښې په خپل زړه کښې داخیال کویء چه هغه قوت او قدرت چه تا حلالوی ما هم حلالوی، او زه هم تاغوندی فنا کیدونکی یم.

لکه څنګه چه د قدرت قانون ته زما غذا کړی ئې زه به هم دیوه قوی شی غذا شم ستا او زما وینه پرته له دې بل کوم حقیقت نه لری چه دغه وینه ستا او زما

درګونو څخه وزی او ستا اوزما په وینو دفطرت دباغ دونو څخه بله یوه و نه خړوبه شی.

اودیو بل تن ژوندورباندې تقویه شی. اویا ورباندې د یوبل چا کمزوری وجود قوی شی.

اویا دبل چا په رګونو کښې حرکت وکړی.

که تاسې مڼه اویا کومه بله میوه په خوله کښې اچوی ء نو په خپلو زړونو کښې داوایی ء چه: ستا تخم به زما په وجود کښې تل ترتله اودهمیشه له پاره شین اوسمسوراوسی.

ته به زما په زړه کښې تل ترتله تانداوژوندی وؤسې او ستا غوټی به په راتلونکو وختو کښې زما په زړه کښې وغوړېږی.

ستاوزمې به زما په ذریعه په نړۍ کښې خپرې شی.

اوپه دې ډول به مونږ دواړه- زه اوته- دیو بل سره په ژوندانه کښې سره شریک شو اوژوند به کوو.

اوزمونږ دواړو تخمونه به دآسمان بادونه په ټوله نړۍ کښې خپاره کړی.

او له دې تخمونو څخه به دمڼو اونورو میوو بې شماره باغونه اوځنګلونه دځمکې په مخ شنه اوراپیداشی!

په کوم وخت کښې چه تاسې په منی کښې دخپلو باغونو کور (انګور) ددې له پاره سره راټول کړی ء چه له غونه شراب جو کړی ء نو په خپلو زړونو کښې دافکر اوخیال کوی ء چه زه هم دکورو (انګورو) یوباغ یم اوزما وجود هم دکورو (انګورو) یوه باغچه ده.

اوزما وجود به هم یوه ورځ ددې له پاره توتې توتې شي چه شراب و ر څخه جوړ شي.

او د شرابو په څیر به زه هم یوه ورځ په یوې چاتۍ (خم) کښې و اچولی شم.

هر کله چه په ژمی کښې د شرابو دغه چاتۍ او خومان بېرته کړل شي، نو د دغو شرابو د هری پیالې سره به ستاسې د روح په اعماقو کښې یو داډول موسیقی ترنم او نغمه پیدا شي چه تاسې به د هغو په اوریدلو مست او نشه شيء او تاسې به دا راز مست او نشه شيء! چه په خپله دغه مستی کښې به فنا ته چمتو (آماده) شيء! تاسې د ترنم په دغه وخت کښې د مستۍ او خزان تیری ورځې را په زړه کړیء!

د کورو (انګورو) باغونه را په زړه کړی! او دا خبره هم را په زړه کړیء چه په کوم ډول ورڅخه په کوم ډول شراب جوړېږی. لکه څنګه چه د انګورو شراب دی هم دغه ستاسې شراب هم دی! او دا خبره هم یاده ولریء چه سبا به ستاسی په ځای دې ځای ته نور خلك راځی او د شرابو محفلونه به جوړوی! او هغوی به هم لکه تاسې له کورو (انګورو) نه شرابونه وباسی او لدینه وروسته به په خپله د هغو شراب د نورو د پاره ویستلی شي.

لکه څنګه چه د نورو د هډونو د خاورو نه هغوی پیالی جوړې کړی دی، د هغوی د وجود نه به نور هم پیالی جوړی کړی.

-۷-

بیا یو دهقان «بزګر» وویل:

«مونږ ته د زیار او زحمت په خصوص کښې څه ووایه!

هغه وویل:

تاسی دې دپاره زیارونه اوزحمتونه ګالیء! چه تاسی دځمکی اوزمانی سره چه دځمکی روح دی قدم په قدم تګ وکړای شیء نوله دې کبله ستاسی دپاره لټی او تنبلی داسی مثال لری لکه چه تاسی دنړۍ دموسمومونو څخه قطعاً خبر نه یاست!؟

ددې ډول خلکو مثال داسی دی لکه چه دیوی داسې ډېرې ښی اولو یې وراڅخه وروسته پاته شی چه دیو ګران وجود خواته روانه وی .

هر کله چه تاسی په خپل کار اوزیار بوخت یاست نو په دغه وخت کښی له تاسې څخه یوه شپیلۍ جوړه شی .

داسې شپیلۍ چه دهغی دزړه له خوږ ؤ نغمو خوا و آواز اولازوال موسیقی څخه په انسانی نړۍ کښی ژوند اوروح پیدا کېږی، آیا ستاسو په ډله کښی به داسی څوك وی چه هغه دنړۍ په دی نیستان اودر ګو کښی دځان څخه یو بې آواز ه کڼکی اویا واښه اوخځله جوړ کړی ؟

ستاسې په مغزو اوفکرونو کښی ځینو ناپوهو خلکو دامفکوره ځای کړی ده چه زیار اوزحمت یو لعنت اودزیار وګالل یو مصیبت دی.

مګرزه تاسی ته په جګ آواز داوایم چه په کوم وخت کښې چه تاسی په زیار اوزحمت بوخت او مصروف یاست نو په دغه وخت کښې تاسی د کائنا تو هغه جګ اوعالی مقصد اومرام ترسره کوی ء! د کوم مرام او مقصد دترسره کولو له پاره چه تاسی دهغی ورځی نه نامزدا وتاکلی شوی واست! په کومه ورځ چه ددغه عالی او جګ مرام مفکوره میدان ته راوتلی وه .

اوپه دې خبره کښې شك نشته چه هرچاچه دزیار لمن ونیوله هغه دژوندانه لمن ونیوله . اود زیار په واسطه د ژوندون ښایسته کول په حقیقت کښې

دژوندانه دجګورازونو څخه دځان خبرولو یوا ځنی ذریعه ده .

لیکن که تاسی دخپل تکلیف په حالت کښې ، د خپل پیدایش زحمتو نه اوصعوبتونه اودژوندانه بې وزلی یولعنت اوبدشی ګڼیء چه ستاسی په تندو باندی لیکل شوی دی .

نوزه تاسی ته وایم چه دغه بدلیك پرته ستاسی دتندی دخولونه په بل شی نه منځل کیږی .

تاسی ته خلك وائی چه ژوند یوه تیاره ده .اوستاسی بی عملی اوتنبلی تاسی دبې عملو اوتنبلو خلکو سره یوشان اوهم آوازه کوی .

هو! رښتیا چه ژوند یوه تیاره ده زه هم داوایم .مګر.. په کوم وخت کښې په هغه وخت کښې چه دده طلب وی.

اوطلب تل ړوند دی .مګر .

چه علم وی ،اوعلم هم خودبین.مګر چه زیار اومحنت وی ،اوهغه هم بې حاصله اوبی نتیجې مګر- چه محبت وی !

او تاسی یواځی دمینې اومحبت له کبله زیارونه باسیء انو په دې صورت کښی تاسی خپل ځان دخپل ځان اوخپل ظاهری وجود دخپل باطنی وجود سره اوعامل له ازل سره تړی .

محبت سره محنت کول څه شی دی ؟

داسې دی لکه چه تاسې دخپل زړه تار ونه راواخلیء او د هغو څخه کالی واوبدیء!

اوداددې له پاره چه دهغی څخه ستاسې دګرانی معشوقې له پاره کالی

داولۍ پشتۍ پاته

چه د درست ښار د مړولو ذمه واخلي.

یو مو پوښتېدله : «ته څنګه د ومره ذمه اخلې ؟»

سوالګره نجلۍ د خلکو له منځه پاڅېدله او په خورا درناوي ئې ورته وو بل :

«زما څخه یو کچکول شته، زه داډه یم چه هیڅکله به ئې تش نه راوړم زه ترتاسي او ترټول ښار بېوزله، اسکېرلې او خوار کۍ یم مګر داډ لرم کله چه تاسي ته د سوال له پاره ودرېږمه نه به مې ترټۍ او کله چه کچکول درته ونیسم تش به ئې نه راپرېږدۍ، زه به ستاسي مرسته حاصله کړم ځکه چه خورا نتلې یمه او نتلتوب تل زړونه را کاږي، زما سره دغلو ګدامونه شته تاسي به ووایاست چیرې ؟ زه به ووایم ستاسي په کورو کښې، زه به د ښار پر بډایانو پلو ګرزوم او بېوزلي به مړوم که مې تاسي مرسته وکړۍ کچکول به مې تل تش نه راځي، د دوډۍ هغه ګولې چه په سوال راوړمه په بېوزلو به ئې خورمه زما زړه خورا لوی دی تر هور بېزۍ مه !

«د څښتن په توکل یو د بل مرستیال شۍ ـ کاختي به پخپله ور که شي»

دپښتو ټولنې تازه خپرونې

۱ : لوړ خیالونه اوژور فکرونه ـ د گل پاچا الفت اثر یو جلد په (۸) افغانۍ

۲ : داورلمبې د ښاغلي خیبري اثر یوجلد په (۵) افغانۍ

۳ : پښتانه داقبال په نظر کښې دښاغلي بختاني تدوین یوجلد په (۷) افغانۍ

٤ : منطق دښاغلي الفت اثر یوجلد په (٦) افغانۍ

٥ : افغان قاموس دښاغلي عبدالله افغاني نویس اثر یوجلد په (۳۲) افغانۍ

٦ : پښتو نثرونه دمحمددین ژواك تدوین یوجلد په (۱۲) افغاني

۷ : پریشانه افکار : دښاغلي بینوا اثر یو جلد په (۱۰) افغاني

۸ : نړۍ په دوه زرم کال کښې دښاغلي واسعي ترجمه یوجلد په (۱۳) افغانۍ

۹ : افغان قاموس دوهم ټوك یوجلد په (۳٤) افغانۍ

۱۰ : دحنان دیوان یوجلد په (۱۲) افغانۍ

دا کتابونه دپښتو ټولنې په پلورنځي کښې موجود دي .

کابل مجله

دامجله دپښتو په خوازه ادب ادبي تنده ماتوي .

دامجله دپښتنې دنیا دمعرفۍ یوازینۍ وسیله ده .

دامجله دتیرو او او سنیو پښتنو پرژوند ښه رڼا اچوي

تاسي کولای شيء چه داتنده په کابل کښې په (٤۰) افغانۍ په د ننه هیواد کښې په (٤٤) افغانۍ په هند کښې په (۱۲) کلداري په نورو دباندنیو هیوادونو کښې په (۳) دالره ماته کړيء

دښورنځیو زده کونکو ته په نیمه بیه .

دنوي کال داشتراك دپاره په کابل کښې همدغه بیه دپښتو ټولنې دمحاسبې مدریت ته اوپه ولایاتو کښې دهمدې مؤسسې دجاري شمېر (په ۷۸۷۵) لمبر افغانستان بانك ته سپارل کېږي

دولتي مطبعه